رواداری
RAWADARI

# افغانستان کې پر ملکي وګړو د پاکستان د پوځي بریدونو د اغېزو ارزونه

## (ډسمبر ۲۰۲۴ – جون ۲۰۲۶)

جولای ۲۰۲۶



Photo (C) Sami Jan/dpa/Alamy Live News

روواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پرېتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پیښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ څېړوي.

# د مطالبو لړلیک


سریزه ۳
شالید ٤
د څېړنې تګلاره ۵
د څېړنې محدودیتونه ٦

**حقوقي چوکاټ** ۷
بنسټیز اصول ۷
الف. د تفکیک اصل ۷
ب. د تناسب اصل ۸
ج. د احتیاط اصل ۸

**د څېړنې د موندنو ارزونه او شننه** ۹
د ترسره شویو بریدونو اړوند جزئیات ۹
الف. هوایي بریدونه ۱۰
ب. ځمکني/راکټي بریدونه ۱۰
ج. ترکیبي بریدونه (ځمکني او هوایي) ۱۰
د. د بریدونو د ترسره کېدو وخت ۱۰
هـ. مخکې تر مخکې خبرداری ۱۱
و. له پوځي مرکزونو او تأسیساتو سره د بریدونو د ځای واټن ۱۱

**د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې جزئیات** ۱۳
الف. د هوایي بریدونو له امله اوښتي انساني مرګ ژوبله ۱۵
کابل ښار کې د روږدو د درملنې او بېرته رغېدو پر یو کمپ برید ۱۵
د پکتیکا ولایت پر برمل ولسوالۍ هوایي بریدونه ۱۸
د خوست ولایت پر ګربز ولسوالۍ هوایي بریدونه ۱۹
د ننګرهار ولایت پر بهسود ولسوالۍ هوایي بریدونه ۲۱
ب. ځمکني/راکټي بریدونه ۲۲
د کونړ ولایت پر مرکز او ناړۍ ولسوالۍ راکټي برید ۲۲

ج. پر کندهار او کونړ ولایتونو هوایي او ځمکني هم‌مهاله بریدونه ۲۳

د کندهار ولایت پر سپین بولدک ولسوالۍ برید ۲۳

پر کونړ ولایت برید ۲٤

خاورو ته د قربانیانو د سپارلو او تدفین پر مهال پر ملکي وګړو برید ۲۵

**پر ملکي شتمنۍ او عامه تأسیساتو برید** ۲۷

الف. د ویجاړو شویو استوګنیزو کورونو شمېر ۲۸

ب. د عامه تأسیساتو او ملکي زېربناوو ویجاړېدل ۲۹

د نورستان ولایت د برګ‌متال او کامدېش ولسوالیو د مواصلاتي لارې تړل کېدل ۳۰

**بې‌ځایه کېدل** ۳۲

د بې‌ځایه شویو کورنیو ستونزې ۳۳

د سیمه‌ییزو مسؤولانو او مرستندویه بنسټونو اقدامات ۳۵

**د ملکي وګړو پر ژوند د بریدونو رواني، ټولنیزې او اقتصادي پایلې** ۳۷

الف. پر قربانیانو او د هغوی پر کورنیو رواني زیانونه ۳۸

ب. پر ښځو د بریدونو پایلې ۳۸

ج. پر ماشومانو د بریدونو رواني پایلې او د زده‌کړې له حق څخه د هغوی محرومېدل ۳۹

د. اقتصادي او ټولنیزې پایلې ٤۰

**پـایـله** ٤۲

**سپارښتنې** ٤۳

# سریــــزه

دا راپور له سیمې څخه د راټولو شویو شواهدو، د قربانیانو د روایتونو او له سیمه‌ییزو سرچینو څخه ترلاسه شویو نورو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی دی. د دې راپور اصلي موخه په افغانستان کې د ملکي وګړو پر ژوند د پاکستان د پوځي بریدونو د بشري او حقوقي اغېزو ارزونه، د قربانیانو ملاتړ، د ځواب ویلو پیاوړتیا او د عامه پوهاوي لوړول دي. دا راپور د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې د پاکستان د پوځي بریدونو له امله د نړیوالو بشرپالو حقونو د مستندو سرغړونو پېښې رانغاړي او له دې ټاکلې مودې بهر پېښې پکې نه دي شاملې.

د دې څېړنې د موندنو او راټولو شویو شواهدو پر بنسټ، د پاکستان پوځي ځواکونو د یادې مودې په ترڅ کې د خوست، پکتیا، پکتیکا، نورستان، ننګرهار، کندهار، هلمند او کابل ولایتونو کې ګڼ شمېر پوځي بریدونه ترسره کړي دي، چې له امله یې لږ تر لږه ۱۱۸۷ ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي، له ۲۹ زرو څخه ډېرې کورنۍ بې‌ځایه شوې او سلګونه استوګنیز کورونه، روغتیایي مرکزونه، ښوونځي، جوماتونه او نورې ملکي ودانۍ او ملکي زېربناوې په بشپړه توګه یا ځینې برخې یې ویجاړې شوې دي.

همدارنګه، د پاکستان د هوایي ځواکونو له خوا د کابل ښار پر یوه روغتیایي او د روږدو کسانو د درملنې پر مرکز د ترسره شوي برید له امله، د دغه مرکز کې لږترلږه ۳۰۰ تنه ناروغان او کارکوونکي وژل شوي او ټپیان شوي دي. د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، دا اقدام د نړیوالو بشرپالو حقونو د بنسټیزو اصولو څرګنده سرغړونه ده او د جنګي جرم مصداق ګڼل کېدای شي.

له بلې خوا، راټول شوي معلومات ښیي چې د پاکستان پوځي ځواکونو د دوو میاشتو لپاره د نورستان ولایت د کامدېش او برګ‌متال ولسوالیو یوازینۍ مواصلاتي لار، چې دغه ولسوالۍ یې د دې ولایت له مرکز او د کونړ او ننګرهار له ولایتونو سره نښلولې، په بشپړ ډول تړلې وه. دې اقدام په عملي توګه یادې ولسوالۍ له سختو ستونزو سره مخ کړې وې او د هغو د اوسېدونکو لاسرسی یې خوراکي توکو، روغتیایي خدمتونو او نورو لومړنیو اړتیاوو ته له جدي ستونزو سره مخ کړی و.

سره له دې، راټول شوي شواهد ښیي چې د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو اغېزې یوازې د انساني تلفاتو او مادي زیانونو پورې محدودې نه دي پاتې شوې، بلکې پر قربانیانو، د هغوی پر کورنیو او سیمه‌ییزو ټولنو یې ژورې رواني، ټولنیزې او اقتصادي اغېزې هم پرېښې دي. پرله‌پسې وېره، د خوندیتوب د احساس له منځه تلل، د ماشومانو د زده‌کړو ګډوډېدل، د بې‌وزلۍ زیاتېدل او بې‌ځایه کېدل هغه ګډ موارد دي چې د دې څېړنې د ډېری مرکه شویو کسانو په روایتونو کې په څرګند ډول بیان شوي دي.

دغه بېلګې ښیي چې د جګړې اغېز ان له بریدونو وروسته هم د ملکي وګړو پر ژوند سیوری غوړولی او عادي ژوند ته د هغوی د بېرته ستنېدو بهیر یې له جدي ننګونو سره مخ کړی دی.

# مخیـنه

په وروستیو کلونو کې د افغانستان او پاکستان سرحدي سیمې څو ځله د امنیتي کړکېچونو او وسله‌والو نښتو شاهدې پاتې شوې دي. دغه کړکېچونه، په ځانګړي ډول د ۲۰۲۴ کال له وروستیو راهیسې، پر پاکستاني پوځي او امنیتي ځواکونو د تحریک طالبان پاکستان د وسله‌والو بریدونو له زیاتېدو سره هممهاله، لا پسې سخت شوي دي. د پاکستان حکومت څو ځله د افغانستان طالبان د پاکستاني طالبانو په ملاتړ تورن کړي او ادعا یې کړې چې د دې ډلې غړي د افغانستان پر خاوره، په ځانګړي ډول د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې موجود دي او له هماغه ځایه پر پاکستان خپل بریدونه تنظیموي او ترسره کوي. خو د طالبانو چارواکو دا تورونه رد کړي دي. سره له دې، تحریک طالبان پاکستان په دې موده کې په ګڼو مواردو کې په رسمي ډول پر پاکستاني ځواکونو د بریدونو مسؤلیت منلی دی.

د دغو کړکېچونو له زیاتېدو وروسته، پاکستاني ځواکونو په ګڼو مواردو کې د ترهګرۍ ضد عملیاتو تر عنوان لاندې د افغانستان پر خاوره بریدونه کړي دي. په مقابل کې، طالب ځواکونو هم د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې او د پاکستان دننه د پاکستاني ځواکونو پر مورچلو وسله‌وال بریدونه کړي دي. د دواړو لورو ترمنځ نښتې، په ځانګړي ډول د ۲۰۲۴ کال له وروستیو راهیسې، لا پسې سختې شوې دي او د دې راپور د چمتو کېدو تر وخته پورې لا هم دوام لري.

په دې راپور کې ارزول شوي بریدونه یوازې په یوې پېښې یا یوې ټاکلې سیمې پورې محدود نه دي، بلکې په ټاکلې مودې کې د افغانستان په څو ولایتونو کې د هوایي، ځمکنیو او ګډو بریدونو په بڼه تکرار شوي دي. د دغو بریدونو د پام وړ برخه د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د استوګنې پر هغو سیمو او کلیو ترسره شوې، چې د زرګونو ملکي کورنیو د اوسېدو ځایونه دي او د استوګنې د کورونو ترڅنګ ښوونځي، روغتیایي مرکزونه، جوماتونه او نور عامه تاسیسات هم پکې شامل دي.

سره له دې، د رسنیو، د بشري حقونو د سازمانونو او نورو سرچینو له خوا خپاره شوي راپورونه ښیي چې په افغانستان کې د پاکستاني پوځي ځواکونو بریدونو د ملکي وګړو لپاره پراخې پایلې درلودلې دي او په دې موده کې د پام وړ شمېر ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي. همدارنګه، د استوګنې کورونه او ځینې عامه او خدماتي تاسیسات زیانمن شوي یا په بشپړه توګه ویجاړ شوي دي. سربېره پر دې، د پاکستان د بریدونو له امله د رامنځته شوې ناوتریخوالي او ناامنۍ په پایله کې ګڼې کورنۍ اړې شوې دي چې خپل د اوسېدو ځایونه پرېږدي.

د طالبانو د ځواکونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو ترمنځ د وسله‌والو نښتو ماهیت ته په پام، چې د دواړو لورو له خوا د یو بل په قلمرو کې متقابل بریدونه پکې شامل دي، اوسنی وضعیت د نړیوالو بشرپالو حقونو له نظره د یوې نړیوالې وسله‌والې جګړې ځانګړنې لري. له همدې امله، د پاکستان د پوځي بریدونو بشري اغېزې د نړیوالو بشرپالو حقونو د قواعدو او بنسټیزو اصولو، په ځانګړي ډول د نړیوالو وسله‌والو جګړو د اړوندو قواعدو په رڼا کې ارزول شوې دي.

# د څېړنې تګلاره

دا راپور له سیمې څخه د راټولو شویو شواهدو، له قربانیانو، عیني شاهدانو او نورو سیمه‌ییزو سرچینو سره د مرکو پر بنسټ چمتو شوی او د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې اړوندې پېښې په ځان کې رانغاړي. د دې څېړنې ساحه یوازې د افغانستان په قلمرو کې د پاکستان د پوځي بریدونو له امله د نړیوالو بشرپالو حقونو د سرغړونو په مستندولو او ارزولو پورې محدوده ده، او هغه پېښې یا د نړیوالو بشرپالو حقونو د سرغړونو احتمالي موارد چې د پاکستان په قلمرو کې رامنځته شوي، اړینو سرچینو او معلوماتو ته د محدود لاسرسي له امله، د دې راپور موضوع نه ده.

د شواهدو د مستندولو بهیر او له قربانیانو، عیني شاهدانو او نورو سیمه‌ییزو سرچینو سره مرکې، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۲۶ کال د جون تر ۲۱مې ترسره شوي دي، او ترلاسه شوي معلومات د کیفي او کمي ګډې څېړنیزې لارې چارې په کارولو سره شنل شوي او ارزول شوي دي.

د دې څېړنې په بهیر کې له ۲۲ نارینه‌وو سره، چې قربانیان، د هغوی د کورنیو غړي، عیني شاهدان، د روغتیایي مرکزونو کارکوونکي، سیمه‌ییز مشران او نورې اړوندې سرچینې پکې شاملې وې، په انلاین ډول مرکې شوي دي. مرکه شوي کسان له هغو ولایتونو څخه ټاکل شوي چې په یاده موده کې د پاکستاني ځواکونو د وسله‌والو بریدونو شاهدان ؤ. د مرکه شویو کسانو یوه برخه د څېړنې ډلې او د رواداري د څارونکو له خوا پېژندل شوې وه او بله برخه د پخوانیو مرکه شویو کسانو له لارې ورپېژندل شوې وه.

د رواداری د څېړونکو یوې ډلې، مرکې د یوې واحدې او نیمه‌جوړښت لرونکې پوښتنپاڼې پر بنسټ، په پښتو او فارسي ژبو ترسره کړې دي او هرې مرکې له یو نیم ساعت څخه تر دوو ساعتونو پورې وخت نیولی دی. د هرې مرکې له پیل مخکې، د څېړنې موخې، امنیتي تدابیر او د معلوماتو د ساتنې او کارونې څرنګوالی مرکه شویو کسانو ته په تفصیل سره تشریح شوی او د هغوی شعوري شفاهي رضایت ترلاسه شوی دی.

همدارنګه، د رواداري څارونکو د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۲۶ کال د جون تر ۳۰مې پورې د خوست، پکتیکا، پکتیا، ننګرهار، نورستان، کندهار، هلمند او کابل په ولایتونو کې د انساني مرګ ژوبلې، د استوګنې د کورونو، عامه تاسیساتو او ملکي زېربناوو د ویجاړېدو، اجباري بې‌ځایه کېدو او ملکي وګړو ته د اوښتو نورو زیانونو اړوند شواهد مستند کړي دي. دغه معلومات له روغتیایي مرکزونو، سیمه‌ییزو شوراګانو، دولتي ادارو او نادولتي بنسټونو، او همدارنګه له سیمه‌ییزو سرچینو، عیني شاهدانو او د قربانیانو له کورنیو سره د مرکو له لارې راټول شوي دي.

په دې راپور کې د نړیوالو بشرپالو حقونو د سرغړونو اړوند د منعکس شویو پېښو د معلوماتو د کره‌والي د ارزونې لپاره، له تکمیلي شواهدو، لکه انځورونو، ویډیوګانو، د روغتیایي مرکزونو او کلینیکونو له اسنادو، او د رسنیو او د بشري حقونو د سازمانونو له خوا له خپرو شویو راپورونو څخه ګټه اخیستل شوې ده. نو د ټولو راپور شویو پېښو له ډلې یوازې هغه پېښې په وروستیو ارقامو کې شاملې شوې دي چې لږ تر لږه د دوو خپلواکو سرچینو له خوا تأیید شوې وې. هغه پېښې چې د لاسرسي د محدودیتونو یا د کافي شواهدو د نشتوالي له امله یې د تأیید امکان نه و برابر، له وروستیو ارقامو څخه ایستل شوې دي.

سربېره پر دې، له مرکه شویو کسانو څخه ترلاسه شوي اطلاعات د څېړنې د اصلي موضوعاتو پر بنسټ کوډ شوي، شنل شوي او له راټولو شویو نورو شواهدو او معلوماتو سره پرتله او تطبیق شوي دي.

# د خبرنې محدودیتونه

د دې خبرنې د ارزول شوې مودې په ترڅ کې، د پاکستان د پوځي بریدونو له امله د زیانمنو شویو ملکي وګړو لویه برخه د افغانستان د کلیو او لیرې پرتو سیمو اوسېدونکي ؤ، چې یا یې انټرنېټي خدمتونو ته منظم او کافي لاسرسی نه درلود او یا هم د انلاین مرکو لپاره له کارېدونکو پلاتفورمونو سره بلد نه ؤ. له همدې امله، رواداري ونه توانېده چې په دغو سیمو کې له ډېرو مرکه شویو کسانو سره اړیکه ټینګه کړي. همدارنګه، یو شمېر قربانیانو او عیني شاهدانو د امنیتي اندېښنو له امله په مرکو کې له ګډون څخه ډډه کړې او ځینو نورو بیا د عدالت پر میکانیزمونو او د بشري حقونو پر سازمانونو د بې‌باورۍ له امله، خبرو او مرکو ته نه دي حاضر شوي.

سربېره پر دې، یو شمېر قربانیانو، چې د رواداري خېړونکو ورسره اړیکه نیولې وه، د اطلاعاتو وراندې کول او د شواهدو د مستندولو په بهیر کې ګډون ځینې ورځني ژوند لپاره بې‌اغېزې بللي او د خپلو اصلي اړتیاوو په توګه یې روزي ګټلو او مادي مرستو ته اشاره کړې ده؛ دا واقعیت د قربانیانو د بېړنیو اړتیاوو او د ځواب ویلو د بهیرونو د اوږدمهاله ماهیت ترمنځ شته واټن څرګندوي.

له بلې خوا، د ناامنۍ او وسله‌والو نښتو دوام، او هم‌مهاله د طالبانو له خوا اطلاعاتو ته د لاسرسي پر وړاندې د سختو محدودیتونو لګول، له هغو نورو ننګونو او محدودیتونو څخه ؤ، چې د دې راپور د چمتو کولو لپاره د شواهدو د مستندولو او د اړتیا وړ اطلاعاتو د راټولولو پر بهیر یې اغېز کړی دی. په دې توګه، له یوې خوا د وسله‌والو نښتو د دوام له امله ځینو سیمو ته د مستقیم لاسرسي امکان نه و برابر، او له بلې خوا طالبانو د بشري حقونو د سرغړونو د څارنې او مستندولو اړوند هر ډول فعالیت منعه کړی دی؛ دې وضعیت د اطلاعاتو د راټولولو او کره‌والي د ارزونې بهیر له جدي ننګونو سره مخ کړی دی.

سره له دې، او د هغو محدودیتونو په پام کې نیولو سره چې پورته یې یادونه وشوه، ښایي د ملکي وګړو پر ژوند د پاکستان د پوځي بریدونو د پایلو او اغېزو ریښتیني اړخونه او همدارنګه د نړیوالو بشرپالو حقونو د سرغړونو د پېښو ریښتینی شمېر، له هغه څه ډېر وي چې په دې راپور کې مستند شوي دي.

# حقوقي چوکاټ

نړیوال بشرپال حقونه د هغو قواعدو او اصولو ټولګه ده چې د وسلهوالو نښتو د اغېزو د محدودولو او د هغو کسانو د ملاتړ په موخه وضع شوي دي چې په جګړه کې ګډون نه لري یا نور پکې ګډون نه کوي. دغه قواعد د جګړې وسایل او لارې چارې محدودوي او رعاتول يې د وسلهوالو نښتو پر ټولو ښکېلو لورو لازمي دي.[۱]

د جینوا د څلورو کنوانسیونونو ګډه دویمه ماده ټاکي چې په دغو کنوانسیونونو کې درج ټول احکام د دوو یا څو غړو دولتونو ترمنځ په هر ډول وسلهواله نښته کې، حتا د جګړې له رسمي اعلان پرته هم، د تطبیق وړ دي.[۲] افغانستان او پاکستان دواړه د جینوا د څلورو کنوانسیونونو غړي دي، له همدې امله د روانو وسلهوالو نښتو پر مهال د نړیوالو بشرپالو حقونو د قواعدو په رعایت مکلف دي.[۳]

## بنسټيز اصول

د جینوا کنوانسیونونو لومړی الحاقي پروتوکول د جینوا د څلورو کنوانسیونونو تر ټولو مهم تکمیلي سند دی، چې د جګړې د لارو چارو او وسایلو د تنظیم او په نړیوالو وسلهوالو نښتو کې د ملکي وګړو د ملاتړ په موخه تصویب شوی دی.[۴] که څه هم پاکستان د جینوا کنوانسیونونو دغه لومړی الحاقي پروتوکول نه دی تصویب کړی، خو په دې سند کې درج د نړیوالو بشرپالو حقونو بنسټيز اصول، لکه د تفکیک، تناسب او احتیاط اصول، د عرفي نړیوالو حقونو برخه ګڼل کېږي او د ټولو دولتونو او د وسلهوالو نښتو د ټولو ښکېلو لورو لپاره الزام راوړونکي دي.

لکه څنګه چې د سره صلیب د نړیوالې کمېټې د ۲۰۰۵[۵] کال د هراړخیزې څېړنې له مخې، د تفکیک، تناسب او احتیاط اصول د عرفي نړیوالو بشرپالو حقونو برخه ګڼل کېږي او د لومړي الحاقي پروتوکول له تصویب یا نه تصویب پرته، د ټولو دولتونو لپاره الزام راوړونکي دي. په لاندې برخه کې د دغو اصولو لنډه تشریح وړاندې کېږي.

### الف. د تفکیک اصل

د دې اصل پر بنسټ، د وسلهوالو نښتو ښکېل لوري مکلف دي چې تل د پوځي اشخاصو او پوځي اهدافو، او همدارنګه د ملکي وګړو او ملکي شتمنیو ترمنځ تفکیک وکړي. لکه څنګه چې د دغه پروتوکول ۴۸مه ماده وايي: «د دې لپاره چې د ملکي وګړو او ملکي شتمنیو درناوی او ملاتړ تضمین شي، د وسلهوالو نښتو ښکېل لوري باید تل د ملکي وګړو او جنګیالیو، او همدارنګه د ملکي شتمنیو او پوځي اهدافو ترمنځ تفکیک وکړي او خپل پوځي عملیات یوازې د پوځي اهدافو پر ضد ترسره کړي».[۶]

1 International Committee of the Red Cross (ICRC), What is International Humanitarian Law? Geneva, July 2004.
2 ICRC, Common Article 2 of the four Geneva Conventions, 1949.
3 ICRC, Geniva Convention (IV) on Civilia: State Parties (Afghanistan and Pakistan), 1949.
4 Diplomatic Conference on the Reaffirmation and Development of International Humanitarian Law, Protocol Additional to the Geneva Conventions, (Protocol 1), 1977
5 Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck, Customary International Law, Volume I: Rules 1, 14,15, 2005
6 . لومړی الحاقي پوتوکول، ۷۸مه ماده.

## ب. د تناسب اصل

د دې اصل پر بنسټ، ان که د برید موخه مشروع پوځي هدف هم وي، بیا هم باید ملکي وګړو ته له اړتیا زیات جانبي زیان ونه رسېږي. د دغه پروټوکول ۵۱مه ماده په دې اړه په صراحت سره وايي: هغه بریدونه منعه دي چې تمه کېږي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې، د هغوی د ټپي کېدو، ملکي شتمنیو ته د زیان اوښتو او یا د دغو زیانونو د یوځای پېښېدو لامل شي، په داسې حال کې چې دغه زیانونه له هغې مستقیمې او مشخصې پوځي ګټې څخه، چې تمه ترې کېږي، زیات وي.[7] له دې سره، هغه بریدونه هم منعه اعلان شوي دي چې د ملکي وګړو د تصادفي مرګ ژوبلې یا ملکي شتمنیو ته د زیان لامل کېږي.[8]

## ج. د احتیاط اصل

دغه اصل د نښتې ټول ښکېل لوري مکلفوي چې ملکي وګړو ته د زیان د کمولو لپاره ټول ممکن عملي تدابیر ونیسي. د لومړي الحاقي پروتوکول د ۵۷مې مادې پر بنسټ، باید د برید هدف له پوځي پلوه وارزول شي او د برید لارې چارې او وسایل باید په داسې ډول وټاکل شي چې ملکي وګړو ته اوښتونکي زیانونه تر ممکنه حده راکم شي. همدارنګه، له هغو بریدونو څخه باید ډډه وشي چې ملکي وګړو ته له اندازې زیاته مرګ ژوبله اړوي. د دغه اصل له مخې، که څرګنده شي چې هدف ملکي دی یا برید ملکي وګړو ته له اندازې زیاته مرګ ژوبله اړوي، برید باید سمدستي ودرول شي یا وځنډول شي.[9]

7 . هماغه سرچینه، ۵۱مه ماده (۵) (ب).
8 . هماغه سرچینه، ۵۷مه ماده (۲) (ب).
9 . هماغه سرچینه، ۵۷مه ماده.

# د څېـړنې د موندنو ارزونـه او شننـه

د دې څېړنې موندنې ښيي چې د پاکستان د پوځي بریدونو په ترڅ کې په افغانستان کې ملکي وګړو او ملکي شتمنیو ته په پراخه کچه زیان رسېدلی دی. لکه څنګه چې په دې راپور کې مستندې شوې پېښې، د ملکي وګړو مرګ ژوبله، د استوګنې د کورونو پراخه ویجاړي، عامه او خدماتي تاسیساتو ته زیان رسېدل او اړینو خدمتونو ته د ملکي وګړو پر لاسرسي د محدودیتونو لګول، د تفکیک، تناسب او احتیاط د اصولو د رعایت په اړه جدي اندېښنې راولاړوي، چې په لاندې برخو کې به په تفصیل سره وارزول شي.

## د ترسره شویو بریدونو اړوند جزئیات

د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د پاکستان پوځي ځواکونو د دې راپور د ارزول شوې مودې په ترڅ کې د خوست، پکتیا، پکتیکا، نورستان، ننګرهار، کندهار، هلمند او کابل ولایتونو په کچه، په ټولیزه توګه پر استوګنیزو سیمو او ملکي اهدافو د هوایي، ځمکنیو او ګډو بریدونو یوه لړۍ ترسره کړې ده. له دې سره، اطلاعاتو ته د لاسرسي د محدودیتونو، امنیتي ننګونو او خنډونو له امله، رواداري یوازې د دغو بریدونو ۵۰ پېښې مستندې کړې دي.



د کابل د پلچرخي پر سیمه د پاکستان هوايي برید

۱۳ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: آژانـس خبـری پــژواک

## الف. هوايي بريدونه

له هغو مستند شويو بريدونو څخه چې د پاکستان پوځي ځواکونو د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر او د ۲۰۲۶ کال د جون ترمنځ ترسره کړي، ۱۹ بريدونه، چې د ټولو ۵۰ بريدونو نږدې ۳۸ سلنه جوړوي، هوايي بريدونه ؤ. دغه بريدونه تر ډېره د جنګي الوتکو او وسلوالو بې‌پيلوټه الوتکو په وسيله ترسره شوي دي. له دې ډلې، ۷ بريدونه د پکتيکا ولايت په برمل، ځمکني، نعمت‌اباد او مرغې ولسواليو کې، ۵ بريدونه د خوست ولايت په سپېرې، ګربزو، مندوزيو او عليشېرو ولسواليو کې، ۲ بريدونه د ننګرهار ولايت په شينوارو، بهسودو ولسواليو کې، ۲ بريدونه د پکتيا ولايت په ځمکني ولسوالی، ۱ بريد د کندهار ولايت په تخته‌پل ولسوالی کې، ۱ بريد په هلمند ولايت په بهرامچې کې، او دوه نور بريدونه په کابل ښار کې ترسره شوي دي.

## ب. ځمکني/راکټي بريدونه

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، ۲۸ بريدونه، چې د يادې مودې په ترڅ کې د پاکستان د ټولو پوځي بريدونو نږدې ۵۶ سلنه جوړوي، ځمکني او راکټي بريدونه ؤ. دغه بريدونه د پاکستان د پوځي ځواکونو له سرحدي پوستو څخه، تر ډېره د راکټونو، توغنديو، هاوانونو او نورو جنګي وسايلو او مهماتو په کارولو سره ترسره شوي دي. له دې ډلې، ۱۳ بريدونه د کونړ ولايت په ناړۍ، سرکانو، خاص کونړ او اسعداباد ښار کې، ۹ بريدونه د خوست ولايت په عليشېرو، ځاځي ميدان، ګربزو او سپېرې ولسواليو کې، ۲ بريدونه د پکتيا ولايت په ډنډپټان ولسوالۍ کې، ۲ بريدونه د ننګرهار ولايت په مومندرې ولسوالۍ کې، ۱ بريد د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کې، او ۱ بريد د نورستان ولايت په کامدېش ولسوالۍ کې، ترسره شوي دي.

## ج. ترکيبي بريدونه

د ترلاسه شويو شواهدو له مخې، ۳ بريدونه، چې د دغې مودې په ترڅ کې د پاکستان د ټولو پوځي بريدونو شاوخوا ۶ سلنه جوړوي، د هوايي او ځمکنيو بريدونو ګډ بريدونه ؤ، چې په يو وخت يا پرله‌پسې ډول د کونړ ولايت د اسعداباد ښار او سرکانو ولسوالۍ، او د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ کې ترسره شوي دي. په دغو پېښو کې لومړي ځمکني بريدونه د راکټونو او هاوانونو په وسيله پيل شوي او وروسته، په داسې حال کې چې ملکي وګړو خوندي سيمو ته د پناه وړلو هڅه کوله، هوايي بريدونه هم ورپسې ترسره شوي دي.

## د. د بريدونو ترسره کولو وخت

د مستندو شويو پېښو ارزونه ښيي چې د پاکستان د پوځي ځواکونو له ټولو بريدونو څخه ۳۱ بريدونه د سهار په لومړيو ساعتونو يا د شپې په نيمايي کې، هغه مهال ترسره شوي چې د سيمې اوسېدونکي په خپلو کورونو کې ؤ، يا ويده ول. پر دې سربېره، لږ تر لږه په ۴ پېښو کې يوه سيمه د لنډ وخت په واټن کې تر يو ځل زياته په نښه شوې ده. په ځينو دغو پېښو کې، تر لومړني بريد وروسته، ورپسې بريدونه په داسې حال کې ترسره شوي چې ملکي وګړو د سيمې د پرېښودو يا د ټپيانو د لېږدولو هڅه کوله.

**د کندهار ولايت يوه مرکه شوي کس په دې اړه داسې رويلي دي:**

**«کله چې جګړه پيل شوه، خلک سخت ووېرېدل او د غرونو لمنو ته د پناه وړلو په موخه يې خپل کورونه پرېښودل. هغوی د تېښتې او له سيمې څخه د وتلو په حال کې ؤ چې ورپسې بريدونه پيل شول، چې په پايله کې يې ګڼ شمېر کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او يا ټپيان شول.»[10]**

10 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.

## هـ. مخکې تر مخکې خبرداری

د راپوړ شویو شواهدو او اطلاعاتو له مخې، په پام وړ شمېر پېښو کې د عملیاتو له پیل مخکې د سیمې اوسېدونکو او ملکي وګړو ته هېڅ ډول مخکینی خبرتیا یا اغېزناک خبرداری نه دی ورکړل شوی. لکه څنګه چې د دې څېړنې له ټولو مرکه شویو کسانو څخه ۲۱ تنو ویلي، د بریدونو له ترسره کېدو مخکې یې هېڅ ډول خبرتیا یا اطلاعات نه وُ ترلاسه کړي، او له همدې امله ملکي وګړو ته د سیمې د پرېښودو یا په خوندي ځای کې د پناه اخیستلو لپاره کافي فرصت نه و برابر شوی. یوازې یو مرکه شوي کس، چې د یوې دولتي اداري ورځنی مزدور کارګر و، ویلي چې د برید له ترسره کېدو مخکې او د پاکستان د جنګي الوتکو له لیدل کېدو سره هممهاله یې د ځایي مسئولینو له لارې خبرداری درلاسه کړی و.

**یوه مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«د جګړې یا نښتې هېڅ نښه نه وه او ما هېڅکله دا تصور نه کاوه چې زما کور به د بمبارۍ هدف وګرځي. زموږ د استوګنې ځای ته نږدې هم هېڅ پوځي مرکز یا پوځي مورچل نه و. موږ عادي خلک یوو او هېڅکله مو له سیاسي یا پوځي ډلو سره تړاو نه دی لرلی. ما خپل ټول عمر مزدوري او کارګري کړې ده، څو خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړم.»[11]**

**همدارنګه، یوه بل مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«هېڅ ډول اطلاع نه وه چې کوم ځای به تر برید لاندې راولي. کله چې جګړه پیل شوه، خلک ووېرېدل او هر لوري ته وتښتېدل.»[12]**

**یو بل مرکه شوي کس په دې اړه ویلي دي:**

**«موږ هېڅکله د داسې بریدونو اټکل نه کاوه؛ هر څه بیخي ناڅاپي او حیرانوونکي وُ. موږ په مالدارۍ بوخت وو چې ناڅاپه برید پیل شو. هېڅ مو فکر نه کاوه، ځکه تر دې مخکې زموږ په کلي کې داسې پېښه هېڅکله نه وه شوې، او دا لومړنۍ پېښه وه چې له بده مرغه درانه زیانونه یې لرل.»[13]**

د پورته څرګندونو په پام کې نیولو سره، د پاکستان پوځي ځواکونو د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره هغه احتیاطي تدابیر نه دي نیولي چې د نړیوالو بشرپالو حقونو له مخې د نښتې د ټولو ښکېلو لوریو له اساسي مکلفیتونو څخه ګڼل کېږي[14] چې د دې راپور په راتلونکو برخو کې به وارزول شي، همدا چاره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د زیاتوالي لامل شوې ده.

## و. له نظامي مرکزونو او تاسیساتو سره د بریدونو د ځایونو واټن

له مرکه شویو کسانو او نورو ځایي سرچینو څخه راټول شوي اطلاعات ښیي چې په ډېرو مواردو کې د پاکستان د پوځي بریدونو ځایونه له هر ډول پوځي تاسیساتو یا پوځي مورچلو څخه په پام وړ واټن کې وُ. لکه څنګه چې د دې څېړنې له ټولو مرکه شویو کسانو څخه ۱۷ تنو ویلي، د بریدونو د ترسره کېدو ځایونو ته نږدې هېڅ پېژندل شوي پوځي تاسیسات یا پوځي مرکزونه نه وُ.

**یو مرکه شوي کس، چې د پاکستان د پوځي ځواکونو د یوه برید پر مهال یې کور ویجاړ شوی و، په دې اړه داسې وایي:**

**«زموږ له کوره یوازې ۵ کیلومتره لرې د طالبانو د سرحدي ځواکونو یوه پوسته شته، چې په دې ټوله موده کې پرې آن یو ډز هم نه دی شوی؛ خو د پاکستان پوځي ځواکونو زما کور بمبار کړ.»[15]**

11 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ می ۲۰۲۶.
12 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.
13 . رواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.
14 . (ICRC, Customary International Humanitarian Law, Rule 20; Additional Protocol I, article, 57(2)(c).
15 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۷ اپرېل ۲۰۲۶.

**یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«د پاکستان پوځي پوستې زموږ له کلي څخه شاوخوا دوه تر دوه نیم کیلومتره واټن لري، او د طالبانو پوځي تاسیسات او امنیتي پوستې هم زموږ له کلي څخه د پلي تګ شاوخوا نیم ساعت  لرې دي. سره له دې، پاکستان خپل بریدونه زموږ په سیمه کې ترسره کړل.»[16]**

**یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«د طالبانو پوځي پوسته زموږ د استوګنې له ځای څخه شاوخوا یو کیلومتر لیري وه او په بشپړ ډول په طرف یې موقعیت درلود؛ خو د پاکستان له لوري توغول شوي راکټونه د خلکو پر کورونو ولګېدل. تر هغه ځایه چې ما ولیدل، دغو بریدونو د طالبانو پوستو ته هېڅ زیان ونه رساوه او یوازې د ملکي وګړو کورونه په نښه شول. بریدونه داسې ترسره کېدل، لکه په مستقیم ډول چې ملکي وګړي هدف ګرځول شوي وي.»[17]**

**همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«زموږ کلي ته تر ټولو نږدې د طالبانو پوسته شاوخوا ۲ کیلومتره واټن لري. د پاکستان د حکومت پوستې د غرونو پر سر دي او کلي د همدغو غرونو په لمنو کې پراته دي. هغوی توپونه او هاوانونه بې له هدف او تفکیک څخه توغول، چې ډېری یې د خلکو پر کورونو او همدغو کلیو لګېدل. هلته ملکي وګړي، د ښځو او ماشومانو په ګډون، زیانمن شول... د پاکستان ځواکونو او طالبانو کله ناکله د یو بل پر پوستو هم بریدونه کول؛ خو موږ هېڅکله له چا وانورېدل چې په دغو بریدونو کې دې طالبانو ته کوم زیان رسېدلی وي.»[18]**

پر دې سربېره، د انځورونو، ویډیوګانو او نورو ډیجیټلي شواهدو ارزونه هم ښیي چې په ډېرو دغو سیمو کې هېڅ څرګند او د لیدو وړ پوځي هدف نه و موجود. دغه موندنې په حقیقت کې د هغو مرکه شویو کسانو روایتونه تأییدوي چې ویلي یې دي، د پاکستان بریدونه د استوګنې پر کورونو او نورو ملکي شتمنیو شوي دي او د طالبانو پوځي مورچلو ته یې هېڅ زیان نه دی اړولی.

**یو مرکه شوي کس په دې اړه ویلي دي:**

**«زموږ د استوګنې ځای په یوه حساس موقعیت کې پروت دی او د پاکستان له پولې څخه شاوخوا ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ مترو پورې واټن لري. همدا لامل و چې د پاکستان څو راکټونه زما پر کور او انګړ ولګېدل.» [19]**

16. . رواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.
17. . رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۶ جون ۲۰۲۶.
18. . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۵ جولای ۲۰۲۶.
19. . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.

# د ملکیانو د مرګ ژوبـلې جــــزئیات

د ملکي وګړو خوندیتوب، لکه څنګه چې مخکې هم یادونه وشوه، د نړیوالو بشرپالو حقونو له بنسټیزو موخو څخه یوه ده او د تفکیک د اصل له مستقیمو پایلو څخه ګڼل کېږي. د دې اصل له مخې، ملکي وګړي او ملکي شتمنۍ د وسلهوالو نښتو پر وړاندې له عمومي ملاتړ څخه برخمن دي، او تر هغه وخته چې په وسلهوالو نښتو کې په مستقیم ډول ګډون ونه کړي، د بریدونو پر وړاندې د خوندیتوب حق لري او باید د برید هدف ونه ګرځول شي. دغه قاعده نن ورځ د عرفي نړیوالو بشرپالو حقونو برخه ګڼل کېږي اود لومړي الحاقي پروتوکول د غړیتوب یا نه غړیتوب پرته، د ټولو دولتونو او د نښتې د ټولو ښکېلو لوریو لپاره الزام راوړونکې ده.[20]

20 . ICRC, Customary International Humanitarian Law, Rules 1 and 6.



د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ د ګرديکچ پر سیمه د پاکستان هوايي برید

۲۲ فبروری ۲۰۲۶ | انځور: آژانــس خبـری پـــژواک

د لومړي الحاقي پروتوکول د ۵۱مې مادي دويم بند وايي:«ملکي وګړي او د ملکي وګړو ټولنه بايد د بريد هدف ونه ګرځول شي. همدارنګه، د تاوتريخوالي هغه اعمال يا ګواښونه چې اصلي موخه يې د ملکي وګړو ترمنځ د وېرې او وحشت خپرول وي، منعه دي.»[21] له ملکي وګړو څخه موخه ټول هغه کسان دي چې د نښتې د يو لوري د وسلهوالو ځواکونو يا منظمو وسلهوالو ډلو غړي نه وي. همدارنګه، هغه کسان چې د ټپي کېدو، ناروغۍ، تسليمېدو يا اسارت له امله نور په جګړه کې د ګډون وړتيا نه لري، له بشپړ ملاتړ څخه برخمن دي او پر هغوی بريد کول منعه دي. که د يوه کس د پوځي يا ملکي حيثيت په اړه هر ډول شک موجود وي، اصل پر دې دی چې هغه ملکي وګړی وګڼل شي او ورسره بايد د ملکي وګړي په توګه چلند وشي.[22]

سره له دې، د راټولو شويو شواهدو او اطلاعاتو پر بنسټ، د پاکستان د پوځي ځواکونو د بريدونو په پايله کې، د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې لږ تر لږه ۱۱۸۷ تنه ملکي وګړي په پکتيا، پکتيکا، خوست، نورستان، کونړ، ننګرهار، کندهار، هلمند او کابل ولايتونو کې مړه او ټپيان شوي دي، چې له دې ډلې ۴۷۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۷۱۵ نور ټپيان شوي دي. په وژل شويو کې ۳۴۲ نارينه، ۸۶ ماشومان او ۴۴ ښځې دي، او په ټپيانو کې ۴۶۰ نارينه ، ۱۳۰ ښځې او ۱۲۵ ماشومان دي.




د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوي په خپل يوه راپور کې ويلي چې د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د مارچ تر ۳۱مې پورې موده کې يې په افغانستان کې د ملکي وګړو د څه باندې ۷۵۰ تنو مرګ ژوبله مستنده کړې ده، چې د افغانستان د سرپرست حکومت د امنيتي ځواکونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو ترمنځ د وسلهوالو نښتو په پايله کې رامنځته شوې ده. د دې راپور له مخې، د ملکي وګړو د دې مرګ ژوبلې لويه برخه د فبرورۍ او مارچ مياشتو په ترڅ کې د ترسره شويو هوايي بريدونو له امله اوښتې ده.[23]

د رواداري موندنې ښيي چې يو شمېر قربانيان د مهماتو د پارچو د لګېدو، له بريدونو څخه د رامنځته شويو اورلګېدنو او چاودنو په پايله کې وژل شوي يا ټپيان شوي دي. همدارنګه، يو شمېر نورو د استوګنې د کورونو يا نورو ودانيو د نړېدو له امله وژل شوي يا ټپيان شوي دي. برسېره پر دې، په ځينو پېښو کې ملکي وګړي هغه مهال د ورپسې بريدونو هدف ګرځېدلي او وژل شوي يا ټپيان شوي دي، چې د سيمې د پرېښودو، د ټپيانو د لېږدولو يا د مخکينيو بريدونو د قربانيانو د ښخولو هڅه يې کوله.

21 . لومړي الحاقي پروتوکول، ۲ بند ۵۱مه ماده.

22 . ICRC, Customary International Humanitarian Law, Rules 3, 5, 6 and 47; Additional Protocol I, Article 50(1), 51(2)–(3) and 52.

23 . United Nations, Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Cross-border civilian casualties in Afghanistan: January- March 2026 (May 2026), p. 2, https://unama.unmissions.org/sites/default/files/2026-05/_English%20-%20UNAMA%20HRS%20paper%20on%20cross-border%20civilian%20casualties%20-%20Jan-Mar%202026_Updated_11.05.26.pdf

همدارنګه، د راټولو شویو اطلاعاتو او شواهدو ارزونه ښیي چې ټپیان تر ډېره د غړو له پرې کېدو، د بدن د څېرېدو، سوځېدو، د لاسونو، پښو او هډوکو له ماتېدو، د اورېدو د ځواک له منځه تلو او دایمي معلولیتونو سره مخ شوي دي. د ټپونو ډول او شدت د برید له ډول، د مرمۍ د لګېدو له ځای او د چاودنې له ځای څخه د قربانیانو د واټن له مخې توپیر درلود.

## الف) د هوایي بریدونوله امله رامنځته شوې مرګ ژوبله

د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د پاکستان د پوځي ځواکونو د هوایي بریدونو په پایله کې، لږ تر لږه ۶۹۴ ملکي وګړو د خوست، کونړ، پکتیکا، پکتیا، کندهار، هلمند، ننګرهار او کابل ولایتونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغو بریدونو د قربانیانو له ډلې ۵۳۳ نارینه، ۱۱۳ ماشومان او ۴۸ ښځې دي.

په لاندې برخه کې، د ملکي وګړو پر ضد د هغو هوایي بریدونو بېلګې تشریح کېږي چې د دې راپور د ارزول شوې مودې په ترڅ کې د پاکستان د پوځي ځواکونو له خوا ترسره شوي دي. دغه بېلګې د هغو د اهمیت او پراخو بشري پایلو له امله غوره شوې دي او د مستندو شویو ټولو پېښو استازیتوب نه کوي.

## په کابل ښار کې د روږدو د درملنې او بېرته رغېدو پر یو کمپ هوایي برید

امید کمپ، د کابل ښار په ختیځه برخه کې موقعیت لري. دغه کمپ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت په وروستیو کلونو کې د نشه‌یي توکو د روږدو کسانو د ساتنې او بېرته رغېدو د مرکز په توګه جوړ شوی و. هغه مهال به ناروغان د ابن‌سینا له زر بستریز روغتون څخه د درملنې تر بشپړېدو وروسته، د بېرته رغېدو د پروګرامونو د دوام او حرفوي زده‌کړو لپاره د امید کمپ ته لېږدول کېدل. په وروستیو کلونو کې، دغه مرکز تر ډېره د ابن‌سینا د روږدو کسانو د درملنې له روغتون څخه د رخصت شویو ناروغانو د لنډمهالې ساتنې د مرکز په توګه کارول کېده او په یوه وخت کې یې د دوو زرو کسانو د منلو ظرفیت درلود.

د ۲۰۲۶ کال د مارچ پر ۱۶مه، د شپې شاوخوا ۹ بجې، د پاکستان هوایي ځواکونو پر دغه کمپ هوایي برید وکړ، چې د تائید شویو اطلاعاتو پر بنسټ د دې راپور د چمتو کېدو تر وخته کم تر کمه ۲۰۴ تنه نارینه په دې برید کې وژل شوي او ۹۶ نور د یوې ښځې په ګډون ټپیان شوي دي. قربانیان تر ډېره د دغه مرکز ناروغان، مراجعین او کارکوونکي ؤ. د مړو او ټپیانو شمېرې د هغوی د دقیق شهرت او ځانګړنو سره په کابل کې د عدلي طب په ګډون له لسو روغتونونو څخه ترلاسه شوي دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوي (یوناما) اعلان کړی چې د پېښې په ځای کې د دوی د لیدنو او له عیني شاهدانو سره د مرکو د پایلو پر بنسټ، پر دغه مرکز درې بریدونه شوي، چې له امله یې لږ تر لږه ۲۶۹ نارینه وو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۱۲۲ نور کسان، چې یوه ښځه هم پکې شامله وه، ټپیان شوي دي. د یوناما د موندنو له مخې، د وژل شویو او ټپیانو نږدې ټول یې د دغه روغتون ناروغان ؤ[۲۴] . همدارنګه، د بشري حقونو د څار سازمان ویلي چې په دې پېښه کې لږ تر لږه ۱۴۳ کسان وژل شوي او له ۲۵۰ څخه ډېر نور ټپیان شوي دي.[۲۵]

24 UNAMA, Cross-border civilian casualties in Afghanistan: January- March 2026 (May 2026), p. 5, https://unama.unmissions.org/sites/default/files/2026-05/English%20-%20UNAMA%20HRS%20paper%20on%20cross-border%20civilian%20casualties%20-%20Jan-Mar%202026_Updated_11.05.26.pdf

25 Human Rights Watch, Pakistan: Airstrike on Afghan Medical Facility Unlawful, (2026). https://www.hrw.org/news/2026/03/27/pakistan-airstrike-on-afghan-medical-facility-unlawful

خو د برید د سختوالي، د چاودنو د پراخوالي او د یو شمېر کسانو د نادرکه کېدو له امله، تر اوسه د قربانیانو وروستۍ شمېره نه ده روښانه شوې. له دې سره، د رواداري موندنې ښيي چې د برید پر مهال په دغه مرکز کې له ۱۳۰۰ څخه ډېر ناروغان تر درملنې لاندې ؤ، او ۳۵ کارکوونکي هم پر خپلو دندو بوخت ؤ.

د پاکستان له هوايي برید وروسته، د روږدو کسانو د درملنې او بیارغونې په کمپ کې د مرستندویه خدمتونو موټر

۱۷ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: dpa picture alliance / Alamy



د دې مرکز له کارکوونکو څخه یو تن رواداري ته ویلي دي:

«یو بم د کمپ پر اداري برخه ولګېد چې په کانتینرونو کې یې موقعیت درلود، او بل بم د تنکیو ځوانانو پر تالار ولګېد... په دغه برید کې ګڼ شمېر تنکي ځوانان ووژل شول. د تالار فرش په وینو لړلی و، تر دې چې پر وینو به مو پښې ښویېدلې او په سختۍ مو تګ کولی شو. درېیم بم هم پر هغه تالار لګېدلی و چې له ۲۵ کلونو څخه د لوړ عمر ناروغانو ته ځانګړی شوی و.» [۲۶]

همدا راز د دغه مرکز یو بل کارکوونکي له رواداري سره په خبرو کې د دې برید د ابعادو او د قربانیانو د شمېر په اړه داسې روایت کړی دی:

«د برید په سبا کمپ ته ولاړم. کله چې ځای ته ورسېدم، ټپیان تر دې مخکې روغتونونو ته لېږدول شوي ؤ، خو د قربانیانو جسدونه لا هم پر هماغه ځای کې پراته ؤ، او د ژغورنې ځواکونو لا هم د نړېدلو ودانیو له لاندې جسدونه را ایستل. د نړېدلو دېوالونو او چتونو د پورته کولو او د قربانیانو د را ایستلو لپاره درانه ماشین‌الات هم سیمې ته راوستل شوي ؤ. یو بم د خیاطۍ پر څانګې او د جنراتور د تېلو د زېرمه کولو پر ځای لګېدلی و. په هماغه برخه کې هغه ځوانان ساتل کېدل چې تر درملنې لاندې ؤ. د چاودنې له امله د رامنځته شوې اورلګېدنې په پایله کې شاوخوا ۱۲۵ تنه یې په بشپړ ډول سوځېدلي ؤ، چې وروسته یې جسدونه د نړېدلو ودانیو له کنډوالو را وایستل شول. ما د عدلي طب له یوه کارکوونکي سره خبرې وکړې. هغه راته وویل چې د ۱۲۵ جسدونو له ډلې یوازې ۸ کسان پېژندل شوي ؤ، او د نورو قربانیانو هویت د سوځېدنې د شدت له امله د پېژندلو وړ نه و.» [۲۷]

یو بل مرکه شوي کس، چې د کورنۍ یو غړی یې په دغه برید کې وژل شوی و، داسې روایت کړی دی:

«زما وراره د امید په روغتون کې د درملنې لپاره بستر و. د رمضان د ۲۷مې د شپې پر ۱۰ بجو مې ورور له کلي څخه زنګ را وکړ او ویې ویل چې پر روغتون بمباري شوې او د زوی ټیلیفون یې نور کار نه کوي. د پېښلمې پر مهال مې ورور زموږ کور ته راغی او دواړه د روغتون پر لور روان شو. ګڼ روغتونونه مو وپلټل او د ډېرو قربانیانو جسدونه مو ولیدل چې په ډېر وحشتناک حالت کې ؤ؛ د ځینو لاسونه نه ؤ او د ځینو سرونه له بدنونو جلا شوي ؤ. په ۴۰۰ بستریز روغتون کې مو ۴۰ کسان ولیدل چې د همدې برید له امله ټپیان شوي او بستر ؤ... بالاخره موږ ته وویل شول چې عدلي طب ته ولاړ شو. کله چې عدلي طب ته ورسېدو، وضعیت لا پسې ډېر دردناک و. دهلېزونه په وینو ککړ ؤ او هر لوري ته د قربانیانو جسدونه تر سترګو کېدل. جسدونه یې په دهلېزونو او تګ لارو کې په پلاستیکي کڅوړو کې ایښي ؤ. وضعیت ډېر وېرونکی و. هماغلته مو د خپل وراره جسد پیدا کړ. د مهماتو یوه ټوټه یې په زړه لګېدلې وه او له شا څخه یې وتلې وه. د هغه جسد ۱۰۵مه شمېره لرله، یعنې تر هغه مخکې د ۱۰۴ نورو وژل شویو کسانو جسدونه ثبت شوي ؤ.» [۲۸]

د پاکستان د اطلاعاتو وزارت اعلان کړی چې د دغه هېواد هوایي ځواکونو، په دقیق هدف نیولو او مسلکي ډول، د پوځي تأسیساتو او د ترهګرۍ د ملاتړ د زېربناوو پر ضد عملیات ترسره کړي دي. د دې وزارت په وینا، د دغو عملیاتو اهداف د کابل ښار په دوو ځایونو کې تخنیکي زېربناوې او د مهماتو زېرمې وې، او بریدونه په داسې ډول طرح او ترسره شوي چې ملکي وګړو ته د احتمالي اوښتو زیانونو مخه ونیول شي. د پاکستان د اطلاعاتو د وزیر د څرګندونو له مخې، له بریدونو وروسته چاودنې په سیمه کې د مهماتو د سترو زېرمو د موجودیت نښه ده، او دوی د روږدو کسانو د درملنې او بېرته رغېدو مرکز نه دی په نښه کړی.[۲۹]

26 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰ جون ۲۰۲۶.
27 . رواداري، ۱۴ شمېره مرکه شوی، ۳ جون ۲۰۲۶.
28 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲ جون ۲۰۲۶.
29 . Al Jazeera, Pakistan denies hospital strike in Afghanistan as death toll hits 400, (17 March 2026),https://www.aljazeera.com/news/2026/3/17/pakistan-denies-hospital-strike-in-afghanistan-as-death-toll-hits-400

خو سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې برید د امید د روږدو کسانو د درملنې او بیا رغېدو د کمپ پر درې مشخصو نقطو ترسره شوی او په دې کمپ کې ټول کسان په نشه‌یي توکو روږدي ناروغان او د دغه مرکز ملکي کارکوونکو ؤ. سربېره پر دې، داسې هېڅ اسناد او شواهد نه دي ترلاسه شوي چې د دې مرکز پوځي استفاده یا پکې د مهماتو د زېرمو شتون ثابت کړي. له همدې امله، د پاکستان هغه هوايي برید چې د روږدو کسانو د درملنې او بېرته رغېدو پر دې کمپ ترسره شوی، د نړیوالو بشرپالو حقونو د څرګند نقض مصداق دی او جنګي جرم ګڼل کېدای شي.[۳۰]

## د پکتیکا پر برمل ولسوالۍ هوايي بریدونه

د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر پر ۲۴مه، د پاکستان د پوځي څواکونو جنګي الوتکو د سهار په لومړیو ساعتونو کې د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ د شین سترګي، سورزغي، الماستي او مرغۍ کلي د هوايي بریدونو هدف وګرځول. ترلاسه شوي اطلاعات ښيي چې د دغو بریدونو په پایله کې لږ تر لږه ۵۱ ملکي وګړي، چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل ؤ، ووژل شول او ۸ نور ټپیان شول. د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) هم په خپل یو راپور کې په دې پېښه کې د ۲۰ ماشومانو وژل کېدل تأیید کړي دي.[۳۱]

د پاکستان حکومت د دې عملیاتو ترسره کېدل تائید کړل او اعلان یې وکړ چې دغه برید د استخباراتي معلوماتو پر بنسټ او د ترهګرو ډلو، په ځانګړې ډول د تحریک طالبان پاکستان (TTP) د غړو پر ضد د مبارزې په لړ کې ترسره شوی دی.[۳۲]

خو سره له دې، د دې څېړنې په بهیر کې د مرکو، اسنادو او نورو تکمیلي شواهدو په ګډون راټول شوي شواهد او اطلاعات ښيي چې د دغو بریدونو قربانیان تر ډېره ملکي وګړي ؤ، او هېڅ داسې شواهد نه دي ترلاسه شوي چې د پاکستاني طالبانو تحریک سره د هغوی د تړاو څرګندونه وکړي.

**له دغو بریدونو څخه په یو برید کې د یوې کورنۍ ۱۵ غړي ووژل شول. د دې پېښې په اړه یو عیني شاهد داسې ویلي دي:**

**«کله چې د پاکستان هوايي ځواکونو زموږ کلی په نښه کړ، د کلي ساتونکي په لاسي لوډسپیکر له خلکو وغوښتل چې د هغې کورنۍ د غړو په را ایستلو کې مرسته وکړي چې د نړېدلي کور لاندې پاتې ؤ. زه په بېړه ورورسېدم. په هغه کور کې ۱۶ کسان اوسېدل، خو یوازې یو اووه کلن ماشوم مو ژوندی د نړېدلي کور له لاندې را وایست. د کورنۍ نور ټول غړي وژل شوي ؤ. ما په خپلو لاسونو د دغې کورنۍ د ۱۵ غړو جسدونه را وایستل. کور بشپړ ویجاړ شوی و، او هر لوري ته سوځېدلې او په خاورو ککړې توشکې، کمپلې او د ښوونځي د ماشومانو څېرې شوي کتابونه پراته ؤ. ما دا کورنۍ له کلونو راهیسې پېژندله؛ نه یې له حکومت سره کوم تړاو درلود او نه له کومې وسله‌والې ډلې سره، او نه هم د هغوی د کور په شاوخوا کې کوم پوځي مرکز موجود و.» [۳۳]**

30 . Geneva Convention (IV), Articles 18 and 19; Rome Statute of the International Criminal Court, Article 8(2)(b)(i), (ii) and (ix)
31 . UN, World News in Brief, (26 December 2024). https://news.un.org/en/story/2024/12/1158551
32 . Dawn, Pakistan conducted anit-terrorist operation in border areas based on security threats: FO (26 December 2024). https://www.dawn.com/news/1881200
33 . رواداري، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۱۶ مارچ ۲۰۲۶.

**د دې کورنۍ له خپلوانو یو بل تن له رواداري سره په خبرو کې ویلي دي:**

**«د الوتکې غږ مې واورېد، وروسته یوه ډېره زوروره چاودنه وشوه. سمدستي له کوره ووتم او ومې لیدل چې د ورور کور مې په لوګي او دوړو کې پټ دی. په لوړ غږ مې چیغې کړې او له خلکو مې مرسته وغوښته. د هغو قربانیانو د ژړا او فریاد غږونه مې اورېدل چې د نړېدلي کور لاندې بند پاتې ؤ. کله چې مو هغوی را وایستل، ټول وژل شوي ؤ. د هغوی پر بدن هېڅ ښکاره زخم یا ټپ نه تر سترګو کېده؛ ټولو د کور د چت او دېوالونو د نړېدو او د نړېدلي کور لاندې د ساه بندېدو له امله مړه شوي ؤ. زموږ د ګاونډي پر کور هم یو بم لګېدلی و. د چاودنې زور دومره زیات و چې د ګاونډي مېرمن او ماشوم یې له کور څخه دباندې غورځولي ؤ. د هغې مېرمنې ګېډه نه وه او ښېره یې هم د پېژندلو وړ نه وه. ماشوم یې هم یوه پښه له لاسه ورکړې وه، خو لا یې ساه ایسته. سمدستي مو هغه په موټر کې د سیمې کلینیک ته ولېږداوه، خو ډاکټر تر معاینې وروسته وویل چې هغه هم مړی شوی دی.» [٣٤]**

د ۲۰۲۶ کال د فبروري پر ۲۷مه، د شپې شاوخوا ۲ بجې، د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د افغانستان او پاکستان د ځواکونو ترمنځ له یوې وسلهوالې نښتې وروسته، د پاکستان هوایي او توپچي ځواکونو د دغې ولسوالۍ پر ابراهیمخېل، لرډنګر او والګد کلیو پرلهپسې بریدونه وکړل. ترلاسه شوي اطلاعات ښیي چې د دغو بریدونو په ترڅ کې د ملکي وګړو درې د استوګنې کورونه په نښه شول، چې په پایله کې یې ۲۱ ملکي وګړي، چې ۱۲ نارینه، ۷ ښځې او ۲ ماشومان پکې شامل ؤ، ووژل شول او ۳ نور ټپیان شول.

**د لرډنګر کلي یو اوسېدونکي، چې په دغه برید کې یې د خپلې کورنۍ ۱۴ غړي له لاسه ورکړي او د کورنۍ یو بل غړی یې ټپي شوی و، له رواداري سره په خبرو کې داسې ویلي دي:**

**«د رمضان میاشت وه او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې سخته جګړه روانه وه. بېپیلوټه الوتکې په اسمان کې ګرځېدې، او ما د بمبارۍ له وېرې د خپلې کورنۍ ټول غړي کور ته نږدې کرنیزو ځمکو ته ولېږدول، څو هلته خوندي وي. یوازې زه او زما یو وراره په کور کې پاتې شوو. د شپې شاوخوا دوه نیمې بجې کلی ارام شو او موږ فکر وکړ چې جګړه پای ته رسېدلې ده. د کورنۍ غړي، چې په کرنیزو ځمکو کې یې پناه اخیستې وه، د پېشلمې د خوړلو لپاره بېرته کور ته راغلل. ټول د پېشلمي په خوړلو بوخت وو چې ناڅاپه بیا د چاودنو غږونه پورته شول. زه اندېښمن شوم او خپل د تره زوی ته مې چې په خوا کې مې ناست ؤ وویل، چې ټولې ښځې او ماشومان د کور لاندې خونې ته ښکته کړي. زه خپله د کور د شا له دروازې بهر ووتم، څو وګورم چې برید په کوم ځای کې کېږي. هماغه شېبه مې د پاکستان یوه بېپیلوټه الوتکه ولیده چې ګرځېده، او ناڅاپه یوه سټره چاودنه وشوه. ټول کور په لوګي او دوړو کې پټ شو... موږ ټول ملکي او بېطرفه خلک ؤ. هلته نه طالبان ؤ او نه هم کوم بل وسلهوال کس. موږ بې وزله او بزګران یوو او له طالبانو سره هېڅ ډول اړیکه نه لرو. هغوی په خپلو سترګو لیدل چې ښځې او ماشومان د کور لاندې خونې ته ښکته شول، خو بیا یې هم برید وکړ او زما د کورنۍ ټول غړي یې ووژل. موږ څه ګناه کړې وه؟ زموږ فریاد به څوک اوري؟ د بشر حقونه چېرې دي؟ چاته شکایت وکړو؟ څوک به زما د کورنۍ غړي بېرته را ژوندي کړي؟ پاکستان وایي چې موږ ترهګر وژلي دي؛ ایا ښځې او ماشومان هم ترهګر دي؟ تېر کال مې په زلزله کې د خپلو خپلوانو او دوستانو ۱۳ تنه له لاسه ورکړل، او سږ کال بیا د پاکستان په برید کې زما د کورنۍ ۱۴ غړي ووژل شول. د خپلې کورنۍ او خپلوانو نږدې ټول غړي مې له لاسه ورکړي دي.» [٣٥]**

## د خوست ولایت پر ګربز ولسوالۍ هوایي بریدونه

د ۲۰۲۵ کال د نومبر پر ۲۵مه، د شپې شاوخوا ۱۲ بجې، د پاکستاني ځواکونو اړوند یوې پوځي الوتکې د خوست ولایت د ګربزو ولسوالۍ د مغولګي کلي د استوګنې پر یو کور هوایي برید وکړ. په دغه کور کې دوه ورونه له خپلو کورنیو سره اوسېدل. د دې برید په پایله کې د دغو دوو کورنیو له ډلې د یوې کورنۍ ټول غړي ووژل شول. په وژل شویو کسانو کې ۹ ماشومان او یوه ښځه هم شامل ؤ. همدارنګه، د دویمې کورنۍ ۲ غړي ووژل شول او ۳ نور ټپیان شول.

34 . رواداري، ۱۹ شمېره مرکه شوی، ۱۱ مارچ ۲۰۲۶.
35 . رواداري، ۲۰ شمېره مرکه شوی، ۱۲ مۍ ۲۰۲۶.

سره له دې، د پاکستان د پوځ وياند په قاطع ډول په دې برید کې هر ډول ښکېلتيا رد کړه او ويې ويل چې د دغه هېواد پوځ د افغانستان په داخل کې هېڅ پوځي عمليات نه دي ترسره کړي. د دغه پاکستاني چارواکي د څرګندونو له مخې، د دوی ځواکونه ملکي وګړي نه په نښه کوي او خپل هر ډول پوځي عمليات په رسمي توګه اعلانوي.[36]

د سيمې يوه اوسېدونکي رواداري ته د دې پېښې په بيان کې ويلي دي:

«کله چې مو د چاودنې غږ واورېد، له لرې څخه د ماشومانو د ژړا او فرياد غږونه اورېدل کېدل. د کلي ټول اوسېدونکي په سختۍ وارخطايي او وېره کې ؤ. کله چې د پېښې ځای ته ورسېدو، کور په بشپړه توګه له خاورو سره خاورې شوی و، او د لوګي او باروتو په منځ کې د وژل شويو کسانو جسدونه په سمه توګه د پېژندلو او تفکيک وړ نه ؤ.»[37]

**يو بل مرکه شوي کس ويلي دي:**

**«په دقيق ډول نه شو ويلی چې څو بريدونه وشول، ځکه شمېر يې ډېر زيات و. خلک ټول بې‌ځايه شول. چا چې موټر درلود، ژر يې سيمه پرېښوده، او چا چې نه درلود، له خپلو ښځو، ماشومانو او ځارويو سره پلي وتښتېدل. ډېر خلک بې وزله او ناداره ؤ، آن نه پوهېدل چې څه وکړي او چېرې ولاړ شي. شپه وه او هوا هم ډېره سړه وه...»[38]**

د دې راپور موندنې ښيي چې د ترسره شويو بريدونو د سختوالي له امله، د دې پېښې د قربانيانو يوه د پام وړ برخه د چاودنې د ټوټو د لګېدو او د کورونو د چتونو او دېوالونو د نړېدو له امله وژل شوي يا ټپيان شوي دي. د عيني شاهدانو په وينا، برید په داسې حال کې شوی و چې د کورنيو غړي ويده ؤ، او له همدې امله يې د تېښتې هېڅ فرصت نه درلود.

د روغتيايي مرکز يو کارکوونکي له رواداري سره په خبرو کې ويلي دي:

«د شپې له دوو بجو وروسته د کلينيک د همکارانو د ټيليفون په زنګ له خوبه راويښ شوم. سمدستي مې روغتيايي ټيم او امبولانس د برید ځای ته ولېږل، او خپله هم د کلينيک پر لور روان شوم. د شپې شاوخوا درې بجې د ۱۰ قربانيانو جسدونه، چې ۹ ماشومان هم پکې شامل ؤ او يو د يوې مياشتې ماشوم چې په کمپله کې نغښتی و، کلينيک ته راوړل شول. درې نور کسان، چې سخت ټپيان شوي ؤ، لومړنی بېړنی روغتيايي پاملرنه يې ترسره شوه او وروسته د لا زياتې درملنې لپاره د خوست ولايت مرکزي روغتون ته ولېږدول شول. د قربانيانو جسدونه هم وروسته د هغوی په خپل کلي کې خاورو ته وسپارل شول.»[39]

د دې کورنۍ سرپرست، چې د برید پر مهال د کار لپاره له هېواده بهر و او په دې پېښه کې يې خپله مېرمن او ټول اولادونه له لاسه ورکړي ؤ، له رواداري سره په مرکه کې داسې وويل:

«د دې کيسې بيانول راته ډېر سخت دي او هغه درد چې زه يې زغمم، په ژبه يې نه شم بيانولای. د شپې مې کار کړی و او سهار خپلې خونې ته ستون شوی وم چې زموږ د ولايت يو کس، چې هغه هم هلته مزدوري کوي، راته ټيليفون وکړ او ويې ويل چې غواړي ما ووينې. څو دقيقې وروسته يې بيا زنګ وواهه او ويې ويل چې د خونې مخې ته مې ولاړ دی. کله چې بهر ووتم، ومې ليدل چې زما د تره زوی په ګډون د کلي پنځه نور کسان هم ورسره راغلي دي. د هغوی په ليدو سخت وارخطا شوم او پوه شوم چې خامخا کومه پېښه شوې ده. په بېړه مې وپوښتل چې څه شوي او ولې ټول دلته راغلي ياست؟ هغوی راته وويل چې مور دې وفات شوې ده. ما فاتحه ولوسته او دا چې خپلې مور سره مې ډېره مينه لرله، ډېر غمجن شوم... په ډېرو ستونزو مې خپل پاسپورټ د کار له ځايه واخيست، د الوتکې ټکټ مې وکړ او ځان مې خوست ته ورساوه. د کلي ملک زموږ هرکلي ته راغلی و. کله چې مې هغه وليد، لا ډېر اندېښمن او ووېرېدم، ځکه په لاره کې مې اورېدلي ؤ چې د پاکستان هوايي ځواکونو زموږ ولسوالۍ بمبار کړې ده. هغه ته مې وويل: رښتيا راته ووايه. ومې ويل، د هوايي بمبارۍ په اړه خبر يم، ايا زموږ کور هم په نښه شوی دی؟ هغه دا خبره تأييد کړه. کله چې کور ته ورسېدم، په خپلو

36. Dawn, DG ISPR Refutes allegation by Afghan Taliban of Pakistan airstrikes in Afghanistan: State media, (25 November 2025), dawn.com/news/1957285.
37. رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۶ جون ۲۰۲۶.
38. رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۵ جولای ۲۰۲۶.
39. رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۵ جولای ۲۰۲۶.

ستړګو مې ولیدل چې کور مې ویجاړ پروت دی او زما ټول ژوند له منځه تللی دی. زما مېرمن او اووه اولادونه مې وژل شوي ؤ. هر ځل چې مې له خپلو لوڼو سره په ټیلیفون خبرې کولې، راته به یې ویل: پلاره، ته به کله کور ته راځې؟ خو کله چې بېرته راستون شوم، له هغوی څخه یو هم په دې دنیا کې نه و... دا هر څه ډېر سخت دي. نه پوهېږم څنګه ووایم چې زه څومره لوی درد زغمم.» [٤٠]

د دغه ژوندي پاتې شوي کس مرکه د هغه د سخت رواني وضعیت له امله څو ځله ودرول شوه. نوموړي د مرکې په ترځ کې څو څو ځله وژړل، او په ځینو مواردو کې د خپلې مېرمنې او اولادونو د له لاسه ورکولو له امله د ژورې روحي ځوربېدنې له کبله یې د تکمیلي پوښتنو د ځوابولو توان نه درلود.

## د ننګرهار ولایت پر بهسود ولسوالۍ هوایي بریدونه

د ۲۰۲۶ کال د فبروري پر ۲۱مه، د پاکستان جنګي الوتکو د ننګرهار ولایت د بهسود ولسوالۍ د ګردي کڅ سیمه کې د استوګنې یو کور د هوایي برید هدف وګرځاوه، چې په پایله کې یې د دې کورنۍ ۱۵ غړي ووژل شول. په قربانیانو کې ۳ نارینه، ۸ ماشومان او ۴ ښځې شاملې وې. همدارنګه، د دې کورنۍ یو بل غړی ټپي شوی و، چې د درملنې لپاره د ننګرهار ولایتي عمومي روغتون ته ولېږدول شو.

د دې کورنۍ سرپرست، چې له دغه برید څخه ژوندی پاتې شوی، داسې ویلي دي:

«د شپې شاوخوا ۱۲ بجې وې او جنګي الوتکې د سیمې پر اسمان ګرځمه کوله. مونږ ګومان کاوه چې دا د افغانستان الوتکې دي. خو ناڅاپه یوه ستره چاودنه وشوه، او په لومړي سر کې مې فکر وکړ چې زوروره زلزله شوې ده. زه له څو ماشومانو سره د کور په یوه خونه کې وم. کله چې وتوانېدو د وتلو یوه لار پیدا کړو او بهر راووځو، ومې لیدل چې ټول کور په بشپړه توګه ویجاړ شوی او زما د کورنۍ غړي د نړېدلي کور لاندې دي. وروسته د کلي اوسېدونکي د پېښې ځای ته راورسېدل او د جسدونو په را ایستلو او د ټپیانو په لېږدولو کې یې مرسته وکړه.»



خلک د هغه کس د جنازې په مراسمو کې ګډون کوي چې ویل کېږي د ننګرهار ولایت په غني‌خېلو ولسوالۍ کې د پاکستان په هوایي بریدونو کې وژل شوی دی.
۱ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: dpa picture alliance / Alamy

40 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۱۸ جون ۲۰۲۶.

یو بل مرکه شوي کس، چې په همدې شپه یې کور په لنډ واټن کې دوه ځله د هوایي بریدونو هدف ګرځېدلی و، داسې وویل:

«په مېلمستون کې ویده وم چې د یوې زورورې چاودنې په غږ له کټ نه لاندې وغورځېدم. پښه مې ټپي شوې وه او سخت درد یې کاوه. غوږونه مې کاڼه شوي ؤ او نه پوهېدم چې څه پېښ شوي دي. زر له مېلمستونه، چې له اصلي کور څخه یې لږ واټن درلود، بهر راووتلم او د کور پر لور مې منډه کړه. لوګي او دوړو هر ځای نیولی و. په لاسي څراغ کور ته ننوتم؛ هلته چې مېرمن او ماشومان مې ویده ؤ. د کور دروازې ته په رسېدو وم چې د خپل وروکي ماشوم د ژړا غږ مې واورېد. ډاډه شوم چې ژوندی دی، خو هماغه شېبه بې‌پیلوټې الوتکې دویم راکټ هم زما پر کور وغورځاوه، چې د څارویو د ساتنې پر ځای ولګېد. کله چې کور ته ننوتم، ومې لیدل چې زما مېرمن او اولادونه، د خپلې دوه کلنې لور په ګډون، سخت ټپیان شوي دي. د ځینو پښې ماتې وې او د ځینو لاسونه. د مېرمنې مې یو لاس او د سینې د هډوکو څو برخې ماتې شوې وې. د ټولو بدنونه او مخونه سوځېدلي ؤ، او د بم ټوټې د هغوی پر مخونو او بدنونو لګېدلې وې. نه پوهېږم ولې یې زما کور بمبار کړ. زه یو بې‌طرفه سړی او یو بزګر یم، په هېڅ حکومت کې مې کار نه دی کړی او له هېڅ ګوند سره اړیکه نه لرم.» [41]

د پاکستان حکومت له دغو بریدونو وروسته اعلان وکړ چې د استخباراتي معلوماتو پر بنسټ په هدفي عملیاتو کې د پاکستاني طالبانو اړوند د «فتنه‌الخوارج (FAK)» او همدارنګه د داعش خراسان څانګې (ISKP) سره تړلي اووه روزنیز کمپونه او پټنځایونه د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کې په دقیق ډول په نښه کړي دي.[42]

خو سره له دې، په دې برخه کې مستند شوي شواهد او اطلاعات ښيي، د پاکستان د نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو د پام وړ برخه د استوګنې پر کورونو او نورو ملکي ځایونو لګېدلي، او د ډېر شمېر ښځو، ماشومانو او نورو ملکي خلکو د وژل کېدو او ټپي کېدو لامل شوي دي. په ډېرو ارزول شویو پېښو کې په لګېدلو ځایونو کې د نظامي اهدافو د شتون یا په وسله والو شخړو کې د قربانیانو د مستقیم ګډون شواهد نشته.

سربېره پر دې، بریدونه تر ډېره د شپې په نیمایي یا د سهار په لومړیو ساعتونو کې، له هر ډول مخکنۍ خبرتیا او اغېزناکې اطلاع رسونې پرته ترسره شوي دي؛ دې وضعیت ملکي وګړو ته د زیان د اوښتو خطر په څرګند ډول زیات کړی دی. دغه کړنې د نړیوالو بشرپالو حقونو له نظره څرګنده سرغړونه ګڼل کېږي او د جنګي جنایت مصداق بلل کېدای شي. [43]

## ب. ځمکني/راکټي بریدونه

د پورته یادو شویو پېښو سربېره، د پاکستان پوځي ځواکونو په خوست، پکتیا، پکتیکا، نورستان او کندهار ولایتونو کې پر ملکي اهدافو ۲۸ ځمکني او راکټي بریدونه هم ترسره کړي دي. د ترلاسه شویو اطلاعاتو له مخې، د دغو بریدونو په پایله کې لږ تر لږه ۱۳۳ ملکي وګړي چې ۷۰، ماشومان، ۴۴ نارینه او ۱۹ ښځې دي وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په لاندې برخه کې د دغو بریدونو د ځینو مهمو پېښو جزئیات وړاندې کېږي، چې د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر او د ۲۰۲۶ کال د جون ترمنځ موده کې ترسره شوي او د هغو د بشري پایلو د پراخوالي او اهمیت له امله د بېلګې په توګه غوره شوي دي.

### د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ پر مرکز راکټي بریدونه

د دې څېړنې تر پوښښ لاندې مودې په ترڅ کې، د پاکستان د پوځي ځواکونو له خوا د ترسره شویو ځمکنیو بریدونو له ټول شمېر څخه، ۱۳ بریدونه د کونړ ولایت پر بېلابېلو سیمو، د دې ولایت د ناړۍ، سرکانو، باغچې، خاص کونړ او اسعدآباد ولسوالیو په ګډون، ترسره شوي دي. د دغو بریدونو په پایله کې لږ تر لږه ۶۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې پکې ۳۶ نارینه، ۱۹ ماشومان او ۵ ښځې شاملې دي.

41 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ مې ۲۰۲۶.
42 . Ministry of Information & Broadcasting, Press Release, (21 February 2026). https://x.com/MoIB_Official/status/2025316690855354804
43 . لومړی الحاقي پروتوکول، ۵۷مه ماده (۲) (ج).

یو مرکه شوي کس په دې اړه ویلي دي:

«د ۲۰۲۶ د مارچ پر ۲۹مه، د پاکستان پوځي ځواکونو یو ځل بیا د کونړ ولایت د اسعدآباد ښار پر ملکي سیمو او د استوګنې پر کورونو د توغندیو بریدونه وکړل، چې په پایله کې یې درې ملکي وګړي، چې دوه نارینه او یوه ښځه پکې شامل ؤ، ووژل شول او ۱۳ نور چې ۹ ماشومان هم پکې ؤ، ټپیان شول. یو کس چې سخت ټپي شوی و، له څلورو ورځو کوما وروسته په روغتون کې مړ شو.» [٤٤]

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«په هغه وخت کې د پاکستاني ځواکونو او طالبانو ترمنځ سختې نښتې روانې وې. طالبانو د پاکستاني ځواکونو پر سرحدي پوستو بریدونه کول، او پاکستاني ځواکونو د طالبانو مورچلې او قرارګاوې بمبارولې. په همدې وخت کې به د پاکستان له سرحدي پوستو پر کلیو او د استوګنې پر سیمو هم توغندي توغول کېدل. یوازې د ناړۍ ولسوالۍ د دوکلام په کلي کې ۲۰ ملکي وګړي، چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل ؤ، ووژل شول او ۳۰ نور ټپیان شول. د دغو کسانو ډېری یې د پاکستاني پوځي ځواکونو د توغندیو د لګېدو له امله په خپلو کورونو، انګړونو، د تګ راتګ پر مهال یا د تېښتې پر وخت وژل شوي یا ټپیان شوي ؤ.» [٤٥]

د راټولو شویو شواهدو له مخې، د پاکستان د پوځي ځواکونو راکټي، توپچي او د هاوان بریدونه د استوګنې پر سیمو او نورو ملکي ځایونو لګېدلي، چې له امله یې پراخه انساني مرګ ژوبله او درانه مالي زیانونه اوښتي دي. د دغو بریدونو د ماهیت او د لګېدلو د بېلابېلو ځایونو په پام کې نیولو سره، د پاکستان دغه کړنې د نړیوالو بشرپالو حقونو د اساسي اصولو، په ځانګړي ډول د احتیاط د اصل او د ملکي وګړو د ساتنې د اصل څرګند نقض ګڼل کېږي.

## ج. پر کندهار او کونړ ولایتونو هممهاله هوايي او ځمکني بریدونه

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په دې راپور کې د مستندو شویو پېښو له ټول شمېر څخه، درې بریدونه په کندهار او کونړ ولایتونو کې په هممهاله توګه د هوا او ځمکې له لارې ترسره شوي، چې په پایله کې یې لږ تر لږه ۳۶۰ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، چې له دې ډلې ۱۹۹ تنه نارینه، ۱۰۷ ښځې او ۵۴ ماشومان دي.

د رواداري موندنې ښیي چې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۲۷مه، د پاکستان پوځي ځواکونو د کونړ ولایت د اسعدآباد ښار او سرکانو ولسوالۍ پر سیمو پراخ هوايي او راکټي بریدونه پیل کړل، چې له امله یې لږ تر لږه ۱۰۸ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته. د دې پېښې د ټپیانو په ډله کې ۶۵ ښځې او ۲۹ ماشومان هم شامل دي.

### د کندهار پر سپین بولدک ولسوالۍ برید

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر، نومبر او ډسمبر په میاشتو کې د پاکستان د پوځي ځواکونو د هوايي او ځمکنیو بریدونو له امله، چې د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ او د هلمند ولایت پر ځینو سیمو ترسره شوي ؤ، لږ تر لږه ۲۴۳ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، چې ۱۸۱ نارینه، ۴۱ ښځې او ۲۱ ماشومان پکې شامل دي.

د پاکستان پوځ اعلان وکړ چې دغه عملیات د افغانستان له خاورې د پولې هاخوا د بریدونو په ځواب او د مشروع دفاع د حق په چوکاټ کې ترسره شوي دي. د دغو څرګندونو له مخې، د پاکستان د پوځ بریدونو یوازې د طالبانو پوځي مورچلې او پوځي زېربناوې په نښه کړې دي او له ۲۰۰ څخه ډېر ترهګر یې وژلي دي. سره له دې، د پاکستان پوځ ټینګار کړی چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره ټول اړین تدابیر نیول شوي ؤ. پوځ همدارنګه له واکمنو افغان چارواکو غوښتي ؤ چې د افغانستان په خاوره کې د پاکستان ضد وسلهوالو ډلو د فعالیت مخه ونیسي.[٤٦]

44 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶.

45 . روااري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپریل ۲۰۲۶.

46 Pakistan Today, 23 Troops Martyred, Over 200 Taliban terrorists killed as Pakistan Respond to Afghan Aggression: IAPR, (13 October 2025). https://www.pakistantoday.com.pk/2025/10/13/23-troops-martyred-over-200-taliban-terrorists-killed-as-pakistan-responds-afghan-aggression-ispr

خو د رواداري موندنې ښيي چې د پاکستان پوځي ځواکونو د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۵مه د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ کې د طالبانو پر يو پوځي مورچل بريد پيل کړ. وروسته د بريدونو لمن په هوايي او ځمکني ډول کليو او د استوګنې سيمو ته وغځېده، چې په پايله کې يې ملکي وګړو، په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو ته پراخه مرګ ژوبله واوښته.

د سپين بولدک ولسوالۍ يو روغتيايي کارکوونکي په دې اړه ويلي دي:

«د پاکستان پوځي ځواکونو پر ملکي سيمو او د استوګنې پر کورونو بمبار وکړ، چې په پايله کې يې پراخه انساني مرګ ژوبله واوښته. د قربانيانو شمېر ډېر زيات و؛ ۴۰ کسان وژل شوي او ۱۷۰ نور ټپيان شوي ؤ.»[47]

يوه بل مرکه شوي کس ويلي دي:

«نښته لومړۍ د سپکو وسلو، لکه کلاشينکوف، په ډزو پيل شوه، وروسته د درنو وسلو په کارولو سره نوره هم سخته شوه. له هغې وروسته د پاکستان پوځي ځواکونو بمبار پيل کړ او ملکي سيمې يې په نښه کړې. د سپين بولدک ولسوالۍ د شهيد په سيمه کې يې پر ملکي وګړو بمبار وکړ، او په يوه پېښه کې شاوخوا ۶ کسان د کور د چت د نړېدو له امله تر خاورو لاندې شول او خپل ژوند يې له لاسه ورکړ. وروسته د بريدونو لمن د اينزرګي سيمې ته وغځېده، هغه ځای ته چې بېرته راستانه شوي کډوال پکې راټول شوي ؤ. وريسې بريدونه د کندهار ښار ته وغځېدل. لومړۍ د لقمان کلی، چې زموږ د استوګنې ځای ته نږدې و، په نښه شو، او له هغې وروسته زموږ کلی هم بمبار شو.»[48]

همدارنګه، يو بل مرکه شوي کس ويلي دي:

«په کور کې ناست وم چې د الوتکې غږ او وريسې د چاودنې او د يوه بم د لګېدو غږ مې واورېد. سمدستي بهر ووتم، هر ځای دوړو او خاورو نيولی و، ښځې او ماشومان نه ښکارېدل. له لټون وروسته مې يو شمېر پيدا کړل؛ يوه ښځه ټپي شوې وه او روغتون ته مو ولېږدوله... زما د کور خونې هم ويجاړې شوې او زيانمنې شوې دي. تر اوسه هم د ماشومانو وچې شيدې له خاورو راوباسم. د کور ټول وسايل مې تر خاورو لاندې پاتې دي. دا بريد ډېر وحشتناک و؛ ښځو او ماشومانو څه ګناه کړې وه چې بمبار شول؟»[49]

## پر کونړ ولايت بريد

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۲۷مه د پاکستان پوځي ځواکونو د کونړ ولايت پر اسعدآباد ښار او د سرکانو ولسوالۍ پراخ هوايي او راکټي بريدونه پيل کړل، چې له امله يې لږ تر لږه ۱۰۸ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته، چې ۶۶ ښځې، ۳۳ ماشومان او ۹ نارينه پکې شامل ؤ.

له مرکه شويو کسانو يو تن په دې اړه ويلي دي:

د اپرېل مياشتې په وروستيو کې د پاکستان ځواکونو خونړي بريدونه پيل کړل. هغوی د کونړ پوهنتون ته نږدې يو کور په نښه کړ، د ښوونې او روزنې پر پوهنځي يې بريد وکړ، او د ولايت په مرکز کې د ساګي او چاګي کليو، او همدارنګه د سرکانو او مروري ولسواليو پر سيمو يې په پراخه کچه راکټي بريدونه وکړل او بم چهل يې وغورځول، د ټپيانو شمېر له ۹۰ څخه زيات و، خو ما په خپله ۵۵ ټپي ملکي وګړي، چې ښځې، ماشومان او نارينه پکې شامل ؤ، وليدل. يو راکټ د ښوونې او روزنې پر پوهنځي ولګېد چې له امله يې ۱۱ کسان ټپيان شول. همدارنګه، د يادو کليو او د استوګنې پر کورونو په نورو بريدونو کې لسګونه ملکي وګړي ووژل شول او ټپيان شول.»[50]

47 . رواداري، ۱۷ شمېره مرکه شوی، ۱۲ اکتوبر ۲۰۲۵.
48 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.
49 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، اکتوبر ۲۰۲۵.
50 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶.

يو بل مرکه شوي کس ويلي دي:

«د ۲۰۲۶ کال د اپرېل پر ۲۷مه، د پاکستان پوله ساتو ځواکونو د کونړ ولايت مرکز د څو هوايي بريدونو هدف وګرځاوه. زما د تره زوی، چې په يوه نانوايي کې يې کار کاوه، د بريدونو له وېرې له نانوای سره يوځای پربکړه وکړه چې خوندي ځای ته ولاړ شي. خو کله چې د تېښتې په حال کې ؤ، د «بم چهل» يوه مرمۍ د دوی ترڅنګ ولګېده. نانوای د غنمو يو درمند ته وغورځېد، خو د بم ټوټې زما د تره د زوی پر بدن ولګېدې، او هغه د سختې وينې بهېدنې له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ.»[51]

د راټولو شويو اطلاعاتو له مخې، د پاکستان پوځي ځواکونو په يو شمېر پېښو کې پر يوې سيمې په هممهاله توګه، يا د ډېر لنډ وخت په واټن کې، ځمکني او هوايي بريدونه ترسره کړي دي. په ځينو مواردو کې بريدونه هغه مهال شوي چې ملکي وګړي د ځمکنيو بريدونو له امله د سيمې د پرېښودو، تېښتې يا خوندي ځای ته د پناه وړلو په هڅه کې ؤ. د بريدونو دغه ډول تګلارې ملکي وګړو ته د اوښتونکي زيان کچه په څرګند ډول زياته کړې ده. د پاکستان د پوځي ځواکونو دغه کړنې د تفکيک او  احتياط د اصولو خلاف دي او د جنګي جنايت مصداق بلل کېدای شي.[52]

## خاورو ته د قربانيانو د سپارلو او تدفين پر مهال پر ملکي وګړو بريد

په دې راپور کې يو له اندېښمنوونکو مستندو شويو بېلګو څخه دا ده چې د قربانيانو د مړو د راټولولو، لېږد او ښخولو پر مهال هم بريدونو يا د بريدونو ګواښ دوام موندلی دی. په دې توګه، يو شمېر ملکي وګړي د قربانيانو د مړو د راټولولو، جنازې او ښخولو پر مهال د بريدونو هدف ګرځېدلي، او ځينې نور د بريدونو د بيا تکرار له وېرې اړ شوي چې د خپلو خپلوانو مړي په ځنډ، د شپې په تياره يا په نورو کليو کې خاورو ته وسپاري. د بېلګې په توګه، د دې څېړنې درېيو مرکه شويو کسانو ويلي چې ملکي وګړي د قربانيانو د ښخولو پر مهال د ورپسې بريدونو هدف ګرځېدلي دي. همدارنګه، شپږو نورو مرکه شويو کسانو يادونه کړې چې د بيا بريدونو له وېرې يې د قربانيانو مړي په نورو کليو کې خاورو ته سپارلي دي.

يو مرکه شوي کس په دې اړه ويلي دي:

«د ۲۰۲۶ کال د فبروري پر ۲۶مه، د هاوان يوه مرمۍ چې د پاکستان د پوځي ځواکونو له يوې پوستې څخه، د بريکوټ کلي ته نږدې، توغول شوې وه، د سيمې د يو ملکي اوسېدونکي پر کور ولګېده. د دې بريد په پايله کې د دې کورنۍ ۲۱ کلن زوی او ۸ کلنه لور ووژل شول. کله چې مور له دې پېښې خبر شوو، له وېرې او اندېښنې سره د هغه کور ته ورغلوو، ځکه هغه زموږ ملګری و. خو د هاوان مرمۍ پرله‌پسې راتلې او پاکستاني ځواکونو ملکي وګړي په نښه کول. له همدې امله مو پرېکړه وکړه چې مړي د شپې په تياره کې په يوه بل کلي کې خاورو ته وسپاروو، څو له بريدونو خوندي پاتې شوو. څو ځوانان د قبر په کېندلو بوخت ؤ، چې پاکستاني ځواکونو هغوی هم په نښه کړل. په پايله کې درې ځوانان، چې عمرونه يې ۱۸، ۲۵ او ۳۰ کاله ؤ، ووژل شول. په دې توګه، موږ د شپې په تياره او د ژور غم په فضا کې، د دوو مړو پر ځای پنځه مړي خاورو ته وسپارل. وضعيت ډېر دردناک و، او آن اوس هم راته د هغه په اړه خبرې کول سخت دي.»[53]

د دې تر څنګ، ګڼې نورې داسې پېښې هم شته چې ملکي وګړي د بريدونو د بيا تکرار له وېرې اړ شوي دي د خپلو خپلوانو مړي په لرې پرتو کليو کې خاورو ته وسپاري. د بېلګې په توګه، يو مرکه شوي کس داسې روايت کړی دی:

**«د هاوان يوه مرمۍ، چې د پاکستان د پوځي ځواکونو له خوا توغول شوې وه، زما کور ته نږدې ولګېده. زما ورينداره چې ۴۰ کاله عمر يې درلود، له خپلې ۹ کلنې لور سره د هاوان د مرمۍ د پارچو له امله پر هماغه ځای ووژل شوې. موږ په ډېرې سختۍ د هغوی مړي کور ته دننه کړل، ځکه هره شېبه د نورو بريدونو اندېښنه راسره وه. آن ونه توانېدو چې هغوی په خپل کلي او هديره کې خاورو ته وسپارو. وېرې او وحشت ټول کلی نيولی و، له همدې امله مو د قربانيانو مړي په يوه لرې کلي کې خاورو ته وسپارل.»[54]**

51 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۱ می ۲۰۲۶.

52 . (Customary International Humanitarian Law, Rules 1, 11, 14, 15 and 24; Rome Statute of the International Criminal Court, Article 8(2)(b)(i), (ii) and (iv)

53 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپرېل ۲۰۲۶.

54 . رواداري، ۶ شمېره مرکه شوی، د می لومړۍ ۲۰۲۶.

یو بل مرکه شوي کس، چې د ننګرهار ولایت د مومندرې ولسوالۍ اوسېدونکی دی، په دې اړه ویلي دي: «د پاکستان د راکټونو له وېرې مو خپل کلی پرېښود او د ننګرهار ولایت د سره رود ولسوالۍ ته وتښتېدو. شپه مو د خپلو خپلوانو په کور کې تېره کړه. د بلې ورځې په سهار مې ورور راته زنګ وواهه؛ ډېر وېرېدلی و او غږ یې رپېده. هغه راته وویل چې زموږ پر کور د پاکستان د هاوان یوه مرمۍ لګېدلې ده، زما ۸ کلن وراره، چې د لومړي ټولګي زده‌کوونکی و، وژل شوی او مور مې هم ټپي شوې ده. د دې خبر په اورېدو سخت ولړزېدم. سمدستي مې یو موټر په کرایه کړ او د کور پر لور روان شوم. په لاره کې مې څو ځله له ورور سره خبرې وکړې. هغه وویل چې مور په روغتون کې تر درملنې لاندې ده. څو دقیقې وروسته مې بیا ورور ته زنګ وواهه، خو دا ځل د کلي یوه مشر ټیلیفون پورته کړ او راته یې وویل چې مور مو هم شهیده شوې ده. د دې خبر اورېدل راته ډېر سخت او دردناک ؤ. کله چې هلته ورسېدم، د کلي خلکو پرېکړه کړې وه چې د قربانیانو مړي په یوه بل کلي کې خاورو ته وسپاري، ځکه هره شېبه د پاکستان د راکټونو د بیا توغولو احتمال موجود و. په پای کې مو د خپلې مور او وراره ټوټه ټوټه شوي مړي د یو بل ترڅنګ خاورو ته وسپارل.» [55]

د مذهبي مراسمو، په ځانګړي ډول د بریدونو د قربانیانو د جنازې او تدفین پر مراسمو برید، د ملکي وګړو د ساتنې د اصل څرګند نقض ګڼل کېږي، چې د انساني مرګ ژوبلې ترڅنګ د قربانیانو پر کورنیو او سیمه‌ییزو ټولنو ژورې رواني او ټولنیزې اغېزې هم پرېږدي. سره له دې، لکه څنګه چې راټول شوي شواهد ښیي، د پاکستان پوځي ځواکونو په ګڼو مواردو کې ملکي وګړي د قربانیانو د ښخولو پر مهال په نښه کړي دي، یا هم ملکي وګړي د بریدونو د بیا تکرار له وېرې اړ شوي دي چې د خپلو خپلوانو مړي د شپې په تیاره یا په نورو کلیو کې خاورو ته وسپاري.

دغه وضعیت څرګندوي چې د پاکستان پوځي ځواکونه د تفکیک اصل او د ملکي وګړو د ساتنې اصل ته ژمن نه دي، او له همدې امله یې کړنې د نړیوالو بشرپالو حقونو نقض ګڼل کېږي.[56]

55 . رواداری، مصاحبه شونده شماره ۱، ۲۷ اپریل ۲۰۲۶.

56 . (Customary International Humanitarian Law, Rules 1, 11, 14, 15 and 24; Rome Statute of the International Criminal Court, Article 8(2)(b)(i), (ii) and (iv)

# پر ملکي شتمنیو او عمومي ودانیو برید

ملکي شتمني هغه ټولې شتمنۍ رانغاړي چې پوځي هدف نه ګڼل کېږي. پوځي هدف یوازې هغو شتمنیو ته ویل کېږي چې د خپل ماهیت، موقعیت، موخې یا د کارونې د څرنګوالي له امله په پوځي عملیاتو کې اغېزناک رول ولري، او د برید پر مهال یې بشپړه یا جزوي ویجاړول، نیول یا بې اغېزې کول څرګنده او مستقیمه پوځي ګټه رامنځته کړي. سربېره پر دې، که د کومې شتمنۍ د پوځي یا ملکي ماهیت په اړه هر ډول شک موجود وي، اصل پر دې دی چې هغه ملکي شتمني ګڼل کېږي او باید د نړیوالو بشرپالو حقونو له مخې له ټاکل شوي ملاتړ څخه برخمنه وي.[57]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې، د پاکستان د پوځي بریدونو په پایله کې ملکي شتمنیو، لکه د استوګنې کورونو، ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو او نورو عامه او خصوصي تأسیساتو ته په پراخه کچه زیان اوښتی دی.

57 . لومړی الحاقي پروټوکول، ۵۲مه ماده ۱، ۲ او ۳ بندونه.



د هوایي برید وروسته د «امید» د درملنې او بیارغونې کمپ
۱۶ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: آژانـس خبـری پــژواک

## الف. د استوګنې د ویجاړو شویو کورونو شمېر

د راټولو شویو اطلاعاتو له مخې، د دې راپور تر پوښښ لاندې موده کې لږ تر لږه د ملکي وګړو ۳۹۴ د استوګنې کورونه، چې له دې ډلې ۱۷۰ په پکتیکا ولایت، ۱۰۴ په کونړ ولایت، ۵۷ په کندهار ولایت کې، ۵۳ په خوست ولایت، ۶ په ننګرهار ولایت، ۳ په پکتیا ولایت او ۱ کور په کابل ښار کې، په بشپړ یا جزوي ډول ویجاړ شوي دي. د جګړې ځینو سیمو ته د لاسرسي د محدودیت له امله، د اوښتو زیانونو بشپړ مستندول ممکن نه ؤ؛ له همدې امله، ډېر احتمال شته چې د استوګنې د ویجاړو شویو کورونو واقعي شمېر له هغه څه څخه زیات وي چې په دې راپور کې یاد شوي دي.

د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر د راپور له مخې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د وسله‌والو نښتو له زیاتېدو سره هم‌مهاله، نږدې زر د استوګنې کورونه زیانمن شوي یا په بشپړ ډول ویجاړ شوي دي.[58]

سربېره پر دې، د دې څېړنې ۱۸ مرکه شویو کسانو د خپلو کورونو د بشپړ یا جزوي ویجاړېدو په اړه خبري کړې دي. همدارنګه، ۶ نورو مرکه شویو کسانو د نورو ملکي وګړو د کورونو د بشپړ یا جزوي ویجاړېدو په اړه معلومات ورکړي دي. د بېلګې په توګه، یو مرکه شوی کس، چې کور یې د پاکستان د پوځي ځواکونو په یو هوایي برید کې په بشپړ ډول ویجاړ شوی، داسې وایي:

«ناڅاپه یوه لویه چاودنه وشوه، په لومړي سر کې مې فکر وکړ چې زلزله شوې ده. زما کور شاوخوا یو جریب مساحت درلود او شاوخوا یې بل هېڅ کور نه و. دا کور مې د خپلې کرنیزې ځمکې په یوه برخه کې جوړ کړی و او د ځمکې نورې برخې د نارنجو باغونه ؤ. مېلمستون هم د اصلي کور په لږ واټن کې موقعیت درلود او له یوې جلا لویې خونې څخه جوړ و. له برید وروسته زما کور په بشپړ ډول ویجاړ شو. هغه سولري سیستم چې له څاه څخه د اوبو د ایستلو لپاره ترې کار اخیستل کېده هم زیانمن شو. ټول وسایل، د یو عراده موټر په ګډون، له منځه ولاړل او یوازې مېلمستون روغ پاتې دی.»[59]

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«د پاکستان د پوځي ځواکونو د یوه برید پر مهال زما کور په بشپړ ډول ویجاړ شو او ټول څاروي مې له منځه ولاړل. د کلونو کلونو زحمت او ټوله شتمني مې له لاسه ورکړه. دې برید په ټوله کې ماته د ۳۰ لکو افغانیو زیان واړاوه.»[60]

دغه روایتونه ښیي چې د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو له امله اوښتي زیانونه یوازې د استوګنې کورونو تر ویجاړېدو محدود نه ؤ، بلکې د ملکي وګړو شتمنیو او د هغوی د ژوند د تېرولو سرچینو ته هم زیان اوښتی دی؛ لکه څاروي، نقلیه وسایط، باغونه، کرنیزې ځمکې او هغه اسانتیاوې هم شاملې دي چې د اوبو او برېښنا د برابرولو لپاره ترې کار اخیستل کېده.

یو بل مرکه شوي کس، چې په یوه نادولتي بنسټ کې کار کوي، په دې اړه داسې معلومات ورکړي دي:

«د پاکستان پوله ساتو ځواکونو، چې د سوېل لوري پر غرونو کې ځای پر ځای ؤ، په قصدي ډول ملکي خلک، د استوګنې سیمې او عامه تأسیسات په نښه کول. زموږ معلومات او د ارزونو پایلې ښیي چې یوازې د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ د دوکلام او بریکوټ په کلیو کې ۱۲ د استوګنې کورونه ویجاړ شوي دي.»[61]

58 United Nations Office for Coordination of Humanitarian Affiars (OCHA), Afghanistan Humanitrain Update (Marich and April 2026). https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-update-march-and-april-2026

59 رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶

60 رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ می ۲۰۲۶.

61 رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپرېل ۲۰۲۵.

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«په کونړ ولایت کې د پاکستان د ځواکونو د راکټي او هوایي بریدونو له امله له ۱۰۰ څخه زیات کورونه ویجاړ شوي دي. یوازې د دې ولایت په مرکز اسعدآباد کې ۱۴ د استوګنې کورونه، په کړه مار سیمه کې ۶ کورونه او په مانړو سیمه کې ۸ کورونه په بشپړ ډول ویجاړ شوي دي.» [٦٢]

د استوګنې کورونه، تر هغه چې په پوځي هدفونو نه وي بدل شوي، ملکي شتمني ګڼل کېږي او د نړیوالو بشرپالو حقونو له مخې له بشپړ ملاتړ څخه برخمن دي. سره له دې، په هغو پېښو کې چې رواداري مستندې کړې دي، هېڅ ډول داسې شواهد او اسناد نه دي موندل شوي چې وښيي له دغو کورونو څخه پوځي استفاده شوې وي یا په پوځي هدفونو بدل شوي وي. له همدې امله، د پاکستان د پوځي ځواکونو دغه کړنې د تفکیک اصل او د ملکي شتمنیو د ساتنې له مکلفیت سره په ښکاره ټکر کې دي او د نړیوالو بشرپالو حقونو نقض ګڼل کېږي. [٦٣]

## ب. د عمومي ودانیو او ملي زیربیناوو ویجاړول

د دې راپور د موندنو له مخې، د پکتیا، پکتیکا، خوست، کونړ، ننګرهار، کندهار ولایتونو او د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې لږ تر لږه ۲۲ ښوونځي، ۱ روغتون، ۱ کلینیک، ۱۱ جوماتونه، ۴۶ دوکانونه او ۱۰ د موټرو پلورنځي په بشپړ ډول ویجاړ شوي یا هم په جزیي ډول زیانمن شوي دي.

د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر په خپل یو راپور کې ویلي دي چې د دوی ارزونې ښيي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د نښتو له زیاتېدو راهیسې ملکي زېربناوو، لکه ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو او د اوبو رسولو سیستمونو ته هم زیان اوښتی یا ویجاړ شوي دي. په راپور کې همدارنګه راغلي چې شاوخوا ۱۹ روغتیایي مرکزونو خپل فعالیتونه ځنډولي، ترلي یا یې خپل خدمات محدود کړي دي؛ هغه وضعیت چې نږدې ۷۸ زره کسان یې روغتیایي خدمتونو ته له محدود لاسرسي سره مخ کړي دي. همدارنګه، راپور ټینګار کوي چې په همدې موده کې د کونړ او ننګرهار ولایتونو له ۱۳ زرو څخه زیات زده کوونکي د خپلو زده کړو په بهیر کې له خنډ سره مخ شوي دي. [٦٤]

یو مرکه شوي کس په دې اړه رواداري ته ویلي دي:

«د یوه سیمه‌ییز خبریال په توګه، چې دغه پېښې مې له نږدې څېړلې دي، ویلی شم چې په کونړ ولایت کې د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو له امله ۵ جوماتونه زیانمن شوي، ۱۰ ښوونځي ویجاړ شوي او همدارنګه د کونړ پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی هم زیانمن شوی او د لمریزي برېښنا سیستم یې له منځه تللی دی.» [٦٥]

**یو بل مرکه شوي کس په دې اړه ویلي دي:**

**«د دوکلام او بریکوټ کلیو ښوونځي په بشپړ ډول ویجاړ شوي دي. څو جوماتونه هم ویجاړ شوي دي چې ما په خپله دوه جوماتونه لیدلي دي؛ د دوکلام کلي جامع جومات او د بریکوټ کلي جامع جومات، چې دواړه په بشپړ ډول ویجاړ شوي او نور د استفادې وړ نه دي. په دغو جوماتونو کې هېڅ پوځي کس حضور نه درلود، خو له دې سره سره پرې برید وشو او ویجاړ شول. همدارنګه، د پاکستان سرحدي ځواکونو د شپې له خوا د هاوان د یوې مرمۍ په ویشتلو سره د چونه‌ګله کلي یو متوسطه ښوونځی او د بریکوټ کلي یو کلینیک په نښه کړل. ښوونځی په بشپړ ډول ویجاړ شوی، خو له نېکمرغه چا ته زیان نه دی رسېدلی، ځکه برید د شپې مهال ترسره شوی و.»[٦٦]**

62 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶.

63 .ICRC Customary IHL Study, Rules 7, 9 and 10; Additional Protocol I, art. 52

64 OCHA), Afghanistan Humanitarian Update (Marich and April 2026). https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-update-) march-and-april-2026

65 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶.

66 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپریل ۲۰۲۶.

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«د هاوان یوه مرمۍ پر یوه مدرسه لګېدلې وه. له نېکمرغه هغه مهال په مدرسه کې هېڅوک نه ؤ، خو د ودانۍ ځینې برخې یې ویجاړې شوې وې. سربېره پر دې، کله چې سیمې ته لاړم، ومې لیدل چې یو شمېر ښوونځي زیانمن شوي او د ځینو چتونه غورځېدلي ؤ. یو بل جومات مې هم ولید چې په بشپړ ډول ویجاړ شوی و او دیوالونه او چت یې ټول نړېدلي ؤ. ... ما په خپله درې ښوونځي ولیدل چې برید پرې شوی و، چې یو یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی و. له هغې وروسته زده کوونکي دغو ښوونځیو ته نه تلل، ځکه خلک فکر کوي که څو کسان په یوه ځای کې راټول شي، ښایي د پاکستان ځواکونه هماغه ځای بمبار کړي. له همدې امله خلک په عامه ځایونو کې له راټولېدو ډډه کوي. همدارنګه، د سیمې بازار هم ډېر زیان لیدلی و او ګڼ دوکانونه یا په بشپړ ډول ویجاړ شوي او یا یې چتونه راپرځېدلي ؤ.» [٦٧]

## د نورستان ولایت د برګمټال او کامدیش ولسوالیو د مواصلاتي لارو تړل

د ترلاسه شویو شواهدو او اطلاعاتو له مخې، د ۲۰۲۶ کال د فبرورۍ له لومړۍ نېټې څخه د اپرېل تر ۱۴مې پورې د پاکستان سرحدي ځواکونو د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ د بریکوټ په سیمه کې د نورستان ولایت د برګمټال او کامدېش ولسوالیو مواصلاتي لاره په بشپړ ډول تړلې وه. د کامدېش او برګمټال ولسوالیو د غرنیو سیمو له امله، دغه لاره د نورستان ولایت له مرکز او همدارنګه له کونړ او ننګرهار ولایتونو سره د هغوی یوازینۍ مواصلاتي لاره بلل کېږي.

د راټولو شویو اطلاعاتو له مخې، د پاکستان د چترال د روند په سیمه کې، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې مېشتو سرحدي ځواکونو د هر ډول نقلیه وسایطو د تګ راتګ او ان د ملکي وګړو د تېرېدو مخه نیوله. دغو محدودیتونو په عملي توګه یادې دواړې ولسوالۍ له دوو میاشتو څخه د زیاتې مودې لپاره له سختو ستونزو سره مخ کړې وې او د هغو د اوسېدونکو لاسرسی یې لومړنیو توکو، روغتیایي خدمتونو او نورو اړینو اړتیاوو ته له جدي ستونزو سره مخ کړی و.

د دې راپور موندنې ښیي چې د ۲۰۲۶ کال د مارچ پر ۱۹مه، له کوچنی اختر څخه یوه ورځ مخکې، یو شمېر ملکي وګړو، په دې ګومان چې د اوربند له اعلان وروسته به پر دې لارې د تېرېدو امکان برابر شوی وي، د سفر هڅه وکړه. خو هغه موټر چې دوی پکې سپاره ؤ، د پاکستان د پوله ساتو ځواکونو تر وسله وال برید لاندې راغی. د ډزو په پایله کې موټر سیند ته ولوېد چې له امله یې یوه ښځینه ډاکټره او د هغې کم عمره ماشوم ووژل شول.

د ترلاسه شویو شواهدو له مخې، د دې لارې تړل کېدو د دغو دوو ولسوالیو د اوسېدونکو پر معیشتي وضعیت، لومړنیو خدمتونو، په ځانګړي ډول روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د هغوی پر لاسرسي، پراخې اغېزې کړې وې. ځکه په دې موده کې د لومړنیو توکو د لېږد له درېدو سره، له یوې خوا د خوراکي توکو بیې په څرګند ډول لوړې شوې وې او له بلې خوا، روغتیایي مرکزونه د درملو او نورو اړینو تجهیزاتو له کمښت سره مخ شوي ؤ.

**د ترلاسه شویو اطلاعاتو له مخې، له دې لارې د تېرېدو له خطرونو او د پاکستان د پوځي ځواکونو له لوري د لګول شویو محدودیتونو له امله، په ډېرو مواردو کې ناروغان د نورستان ولایت مرکز او د کونړ او ننګرهار ولایتونو هغو روغتیایي مرکزونو تـه، چې غوره امکانات یې درلودل، نه شوای لېږدول کېدای. له همدې امله، یو شمېر مرکه شویو کسانو ویلي دي چې په دې موده کې ځینو ناروغانو روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د ناوخته رسېدو یا نه لاسرسي له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.**

سربېره پر دې، د دې راپور موندنې ښیي چې د یادې مواصلاتي لارې د پرله‌پسې تړل کېدو او ورسره د معیشتي ستونزو، په ځانګړي ډول روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د لاسرسي د ننګونو د زیاتېدو له امله، د پام وړ شمېر کورنۍ اړ شوې وې چې د سیمې له غرنیو او د تګ راتګ له سختو لارو څخه، د ډېرو خطرونو او سختیو په زغملو، کونړ او ننګرهار ولایتونو ته کډه وکړي.

67 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۱۷ جولای ۲۰۲۶.

يو تن له مرکه شويو کسانو څخه خپله کيسه داسې بيان کړې ده:

«د مواصلاتي لارو له تړل کېدو او د نښتو له پيل وروسته، د کامدېش او برګمټال ولسواليو اوسېدونکي له خورا جدي ستونزو سره مخ شول. د خوراکي توکو بيې په سختۍ لوړې شوې وې او په درملتونونو او روغتيايي مرکزونو کې کافي امکانات نه ؤ. ډېری ناروغان، څکه چې نورو ولايتونو ته د لېږد امکان يې نه درلود، له درملنې بې برخې شول او ان يو شمېر يې خپل ژوند له لاسه ورکړ. موږ ملکي وګړي يوو او په دغو نښتو کې هېڅ رول نه لرو. خو بيا هم اړ شوو چې داسې سخت او له کړاوه ډک شرايط وزغمو. موږ ته معلومه نه وه چې ولې زموږ پر مخ د تګ راتګ لاره تړل شوې وه. پاکستان، چې يو اسلامي هېواد دی، ولې يې پر خلکو داسې وضعيت راوستی و؟.»[68]

**بل مرکه شوي کس ويلي دي:**

**«د پاکستان پوځي ځواکونو د دوو مياشتو لپاره د نورستان ولايت د کامدېش او برګمټال ولسواليو مواصلاتي لارې تړلې وې او نه يې نقليه وسايطو ته او نه هم پلي ملکي وګړو ته د تګ راتګ اجازه ورکوله. په دې موده کې د دغو دوو ولسواليو اوسېدونکي د خوراکي توکو، درملو او نورو اړينو توکو له سخت کمښت سره مخ ؤ. ان ما واورېدل چې ماشومان د لوږې له امله مړه شول او څو اميندوارو ښځو، چې اړتيا يې لرله د ولسوالی له بهره مجهزو روغتونونو ته ولېږدول شي، د ماشوم د زېږون پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړ.»**[69]

خو د ۲۰۲۶ کال د اپرېل پر ۱۴مه، د ډيورنډ کرښې د دواړو غاړو د سيمه‌ييزو مشرانو د منځګړيتوب او هڅو په پايله کې، پر دې لارې لګول شوي محدوديتونه پای ته ورسېدل او د برګمټال او کامدېش ولسواليو د اوسېدونکو تګ راتګ بېرته پيل شو.

د نړيوالو بشرپالو حقونو له مخې، د شخړې ښکېلې خواوې مکلفې دي چې د پوځي عملياتو پر مهال د ملکي وګړو ساتنه وکړي او له هغو کړنو څخه ډډه وکړي چې د هغوی بنسټيزې اړتياوو، لکه خوړو، درملو او روغتيايي او درمليزو خدمتونو ته لاسرسی په جدي ډول له خنډ يا ګډوډۍ سره مخامخوي. د جينوا کنوانسيونونو د لومړي الحاقي پروتوکول ۵۴مه ماده[70] او د عرفي نړيوالو بشرپالو حقونو قواعد، د هغو بنسټيزو اړتياوو څخه د ملکي وګړو محرومول منعه کوي، چې د هغوی د بقا لپاره حياتي دي.[71] له همدې امله، د پاکستان د پوځي ځواکونو دغه اقدام له يادو مقرراتو څخه سرغړونه او د نړيوالو بشرپالو حقونو نقض ګڼل کېږي.



د کابل د پلچرخي پر سيمه د پاکستان هوايي بريد
۱۳ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: آژانـس خبـری پـژواک

68 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپرېل ۲۰۲۶.
69 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپرېل ۲۰۲۶.
70 . لومړی الحاقي پروټ،کول، ۵۴مه ماده.
71 . Jean-Marie Henckaerts & Louise Doswald-Beck (eds.), Customary International Humanitarian Law, Vol. I: Rules, ICRC, Cambridge University Press, 2005.

# بې ځایه کېدل

د دې څېړنې موندنې ښیي چې د وسله‌والو شخړو له شدت موندلو او د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو په پایله کې، د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې، لږ تر لږه ۲۹ زره کورنۍ په پکتیکا، پکتیا، کونړ، خوست، ننګرهار، نورستان، کندهار او هلمند ولایتونو کې اړ شوي چې خپل د اوسېدو ځایونه پرېږدي او بې‌ځایه شي. دغو کسانو د ناامنۍ، د بریدونو له امله د رامنځته شویو ګواښونو، د خوراکي توکو د بیو د لوړېدو او روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د لاسرسي د محدودیت له امله، ګاونډیو او خوندي سیمو ته پناه وړې ده.

خو اطلاعاتو ته د لاسرسي د محدودیتونو، امنیتي شرایطو او په ښکېلو سیمو کې د نورو شته خنډونو له امله، ښایي د بې‌ځایه شویو کسانو او کورنیو حقیقي شمېر له هغه شمېرو څخه ډېر وي چې په دې راپور کې راغلې دي.



د پکتیا ولایت پر ځمکنیو ولسوالۍ د پاکستان هوایي برید

۲۹ جون ۲۰۲۶ | انځور: آژانس خبری پژواک

د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر ویلي دي چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د نښتو له شدت موندلو راهیسې، د خوست، کونړ، ننګرهار، نورستان، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې تر ۱۰۰ زرو ډېر کسان بې‌ځایه شوي دي.[72]

د دې څېړنې ټولو ۲۲ مرکه شویو کسانو د پاکستان د پوځي بریدونو د شدت موندلو په پایله کې د ملکي وګړو بې‌ځایه کېدو ته اشاره کړې ده. له دې ډلې، ۶ تنو ویلي چې دوی او د هغوی د کورنیو غړي هم د دغو بریدونو له امله اړ شوي ؤ چې خپل د اوسېدو ځایونه پرېږدي.

له مرکه شویو کسانو یو تن ویلي دي:

«د روژې د میاشتې په یوولسمه نېټه، ما او زما د کورنۍ ټولو غړو خپل کلی پرېښود او د سروبي ولسوالۍ ته بې‌ځایه شوو. اوس مهال د سپیدار نري په نوم سیمه کې تر خېمې لاندې ژوند کوو. د برمل ولسوالۍ ۷۰ نورې کورنۍ هم په همدې سیمه کې د خېمو دننه ژوند کوي.» [73]

یو بل مرکه شوي کس، چې د کونړ ولایت اوسېدونکی دی او د یوې نادولتي مؤسسې لپاره یې د بې‌ځایه شویو کورنیو اړوند د اطلاعاتو په راټولولو کې کار کړی، رواداري ته ویلي دي:

«د ۲۰۲۶ کال د فبرورۍ له میاشتې څخه د مارچ تر پایه، د کونړ او نورستان ولایتونو له بېلابېلو ولسوالیو څخه تر ۲۵ زرو ډېر کسان بې‌ځایه شوي دي. هغوی د کونړ ولایت د مرکز په بېلابېلو برخو کې، لکه د مرورې پله ته نږدې، پېچ دره، د هجرت‌آباد په کمپ کې چې د باجوړ کډوالو لپاره جوړ شوی و، او همدارنګه په عثمانیه نومي بل کمپ کې، چې پخوا د زلزلې ځپلو لپاره ځانګړی شوی و، ژوند کوي. یو شمېر نور یې هم د بېلابېلو ولسوالیو د دوستانو او خپلوانو په کورونو، او همدارنګه د جلال‌اباد او کابل په ښارونو کې مېشت دي.» [74]

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«په خوست ولایت کې شاوخوا ۶۰۰ کورنۍ بې‌ځایه شوې دي. خلک هرې هغې خوا ته تلل چې ګومان یې کاوه خوندي به وي، خو هر چېرې چې تلل، د امنیت او ارامۍ احساس یې نه درلود. ټول په ویره او اندېښنه کې ژوند کوي. وضعیت د زلزلې په څېر و؛ هر څا یوازې هڅه کوله چې خپل ځان او خپله کورنۍ وژغوري او خوندي او مصئون ځای ته ځان ورسوي.» [75]

## د بې ځایه شویو کورنیو ستونزې

د ترلاسه شویو اطلاعاتو له مخې، بې‌ځایه شوي کسان له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخامخ ؤ، لکه د خوړو کمښت، د سرپناه نشتوالی، په نامناسبو او غیر صحي ځایونو کې ژوند، ښوونیزو او روغتیايي خدمتونو ته محدود لاسرسی، او همدارنګه د بریدونو د بیا تکرار او د خپلو خپلوانو د له لاسه ورکولو دوامداره وېره.

لکه څنګه چې د دې څېړنې ټولو مرکه شویو کسانو د خوړو کمښت، د مناسبې سرپناه نشتوالی او ښوونیزو او روغتیايي خدمتونو ته محدود لاسرسی د بې‌ځایه شویو کورنیو له اساسي ستونزو څخه بللي دي. له دې ډلې، ۲۰ تنو د بریدونو د بیا تکرار دوامدارې وېرې، ۱۸ تنو د خوړو د کمښت او روغتیايي خدمتونو ته د محدود لاسرسي ستونزې، او ۱۶ تنو د ماشومانو د زده‌کړې له حق څخه محرومیت ته اشاره کړې ده.

72 OCHA), Afghanistan Humanitrain Update (Marich and April 2026). https://www.unocha.org/publications/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-update-march-and-april-2026
73 رواداري، ۶ شمېره مرکه شوی، ۱ مۍ ۲۰۲۶.
74 رواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، ۹ مۍ ۲۰۲۶.
75 رواداري، ۱۰ شمېره مرکه شوی، ۶ جون ۲۰۲۶.

یو تن له مرکه شویو کسانو په دې اړه ویلي دي:

«بې‌ځایه شوي کسان له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي؛ له هغې ډلې د خېمو، خوراکي توکو، درملو او ډاکټرانو کمښت، او د تعلیم  له حق څخه د ماشومانو بې‌برخې کېدل. ان یو شمېر بې‌ځایه شوې کورنۍ په لومړیو ورځو کې تر باران لاندې او له هېڅ ډول سرپناه پرته ژوند کولو ته اړې شوې وې. زما او د یو شمېر نورو ملګرو د هڅو په پایله کې، سیمه‌ییزو مسؤلینو هغوی په موټرو کې لوبغالو او ځینو نورو ځایونو ته ولېږدول. وروسته، د پېښو پر وړاندې د مبارزې اداري او د افغاني سرې میاشتې ټولنې په ځېر ځینو بنسټونو هغوی ته لږې لومړنۍ مرستې ورسولې، خو دغه مرستې په هېڅ ډول د بې‌ځایه شویو کسانو اړتیاوو ته ځواب ویونکې نه وې.» [76]

یو بل مرکه شوي کس، چې کور یې د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو په پایله کې ویجاړ شوی، خپله کیسه داسې بیان کړې ده:

«زه اوس د ماشومانو په ګډون د خپلې کورنۍ‌له غړو سره د چرګانو په یو فارم کې ژوند کوم چې زموږ د یو ملګري ملکیت دی. دا مهال په دې فارم کې چرګان نه ساتل کېږي، خو دلته د ژوند کولو هېڅ اسانتیا نشته، ډېر بد بوی لري او هېڅ د اوسېدو مناسب ځای نه دی. بله چاره نه لرو او اړ یو چې همدلته ژوند وکړو.» [77]

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«هغه کسان چې له خپلو کورونو بې‌ځایه شوي دي، په دربېیو ډلو وېشل کېږي. لومړۍ ډله هغه کسان دي چې مالي وس یې درلود او ځانونه یې د کندهار ښار ته ورسول. دویمه ډله د سیمې له بهره د خپلو خپلوانو او دوستانو کورونو ته پناه یوړه. خو دربېیمه ډله، چې د بې‌ځایه شویو تر ټولو لویه برخه جوړوي، د اینزرګي غره لمنو ته پناه وړې ده. هلته هېڅ ډول اسانتیاوې نشته. ځینو د ځان لپاره خېمې درولې دي، خو یو شمېر نور ان له خېمې پرته شپه او ورځ په ازاده فضا کې تېروي. هېڅا ورسره مرسته نه ده کړې؛ نه حکومت او نه هم نړیوالو مرستندویه بنسټونو. د خلکو ډېر شمېر لا هم بې‌ځایه دي او د جګړو د بیا پیل له وېرې نه دي توانېدلي بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي.» [78]

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

زه اوس له خپلې کورنۍ سره په یوه خېمه کې ژوند کوم. دلته ژوند ډېر سخت دی او د هوا د ګرمېدو له امله ورځ تر بلې لا پسې سختېږي، خو مجبوره یو او بله چاره نه لرو. موږ په هغې خېمه کې ژوند کوو چې پخوا مې د څارویو د ساتلو لپاره کاروله.» [79]

د مرکه شویو کسانو روایتونه ښیي چې د پاکستان د پوځي بریدونو له امله د ملکي وګړو بې‌ځایه کېدل یوازې د کورونو او د اوسېدو د ځایونو په پرېښودو پورې محدود نه ؤ، بلکې اوږدمهالې بشري پایلې یې هم درلودې. دغه کورنۍ، له خپلو اساسي حقونو د محرومېدو سربېره، په ځینو مواردو کې اړې شوې دي چې په ډېرو سختو شرایطو او په نامناسبو او غیر صحي ځایونو کې ژوند وکړي.

76 . رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ مې ۲۰۲۶.
77 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ مې ۲۰۲۶.
78 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ مې ۲۰۲۶.
79 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۵ جولای ۲۰۲۶.

## د سیمه ییزو مسئولینو او مرستندویه سازمانونو اقدامات

د دې څېړنې موندنې ښيي چې د سیمه‌ییزو مسؤلینو او نورو مرستندویه بنسټونو له خوا ترسره شوې مرستې د ټپیانو، د قربانیانو د کورنیو او بې‌ځایه شویو کسانو اړتیاوو ته ځواب ویونکې نه وې. د بېلګې په توګه، له هغو مرکه شویو کسانو څخه چې خپل خپلوان یې په بریدونو کې له لاسه ورکړي ؤ، ۱۲ تنو ویلي چې یوازې محدودې مرستې یې د سیمه‌ییزو مسؤلینو یا ځینو مرستندویه بنسټونو له خوا ترلاسه کړې دي، په داسې حال کې چې ۱۰ نورو ویلي، هېڅ ډول مرسته یا ملاتړ یې نه دی ترلاسه کړی.

راټول شوي اطلاعات ښيي چې سیمه‌ییزو مسؤلینو او ځینو مرستندویه بنسټونو د قربانیانو له کورنیو سره له ۲۰ زرو څخه تر ۵۰ زرو افغانیو پورې، له ټپیانو سره له ۱۰ زرو څخه تر ۱۵ زرو افغانیو پورې، او له بې‌ځایه شویو کورنیو سره له ۵ زرو څخه تر ۸ زرو افغانیو پورې نغدي مرسته کړې ده، او په ځینو مواردو کې یې خېمې او خوراکي توکي هم ورکړي دي. له دې سره سره، داسې قربانیان هم شته چې له یادو بنسټونو څخه یې هېڅ ډول مرسته نه ده ترلاسه کړې.

یو تن له مرکه شویو کسانو د یوه قرباني د کورنۍ د وضعیت په اړه داسې ویلي دي:

«له برید وروسته هېڅا د هغه له کورنۍ سره مرسته ونه کړه. یوازې یو سیمه‌ییز صراف دغې کورنۍ ته ۵ زره افغانۍ ورکړې. هغه د یوې بې‌وزلې کورنۍ غړی و، چې تازه یې واده کړی و او په یوه نانوايي کې یې کار کاوه. د بې‌وزلۍ او اقتصادي ستونزو سره سره، زده‌کړې یې کولې او د ادارې او محاسبې د انستیتیوت محصل و.» [80]

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«د سرې میاشتې ټولنې دفتر او د پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست، د ځینو نړیوالو بنسټونو په همکارۍ، له بې‌ځایه شویو کورنیو سره له ۵ زرو څخه تر ۸ زرو افغانیو پورې نغدي مرسته وکړه. همدارنګه یې یو شمېر دغو کورنیو ته خېمې او خوراکي توکي هم ووېشل.» [81]

یو بل مرکه شوي کس، چې ورور یې د پاکستان د پوځي ځواکونو په یوه برید کې وژل شوی و، خپله کیسه داسې بیان کړه:

«مور ته یې ۳۰ زره افغانۍ راکړې، چې له هغې څخه ۵ زره افغانۍ زما د ورور پاتې مزدوري وه. له دې پرته، هېڅا بل اقدام ونه کړ او موږ هېڅ بله مرسته ترلاسه نه کړه. یوازې یې زما د ورور د شهادت په اړه یو سند راکړ، چې موږ هغه د سره صلیب له نړیوالې کمېټې سره شریک کړ، خو تر اوسه د هغه د برخلیک په اړه هېڅ معلومات نه لرو او نه پوهېږو چې مرسته به ترلاسه کړو که نه.»[82]

80 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۱ اپرېل ۲۰۲۶.
81 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۹ اپرېل ۲۰۲۶.
82 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰ می ۲۰۲۶.

سربېره پر دې، په ځينو مواردو کې ټپيانو پر وخت او اغېزناکو لومړنيو مرستو او درمليزو خدمتونو ته لاسرسی نه درلود. لکه څنګه چې له مرکه شويو کسانو يو تن ويلي دي:

«زما پلار د پاکستان د ځواکونو د يوه بريد په پايله کې ټپي شو. موږ په يوه لرې پراته کلي کې ژوند کوو او زموږ په سيمه کې هېڅ روغتيايي امکانات نشته. هره کورنۍ يوازې د لومړنيو مرستو يوه بسته لري چې د زخمونو د درملنې او لومړني پانسمان لپاره ترې کار اخلي. موږ ونه توانېدو چې خپل پلار سمدستي روغتون ته ولېږدوو، ځکه د جګړې او نښتو له امله مواصلاتي لارې تړلې وې. که روغتون نږدې وای، ښايي هغه ژوندی پاتې شوی وای، ځکه له ټپي کېدو وروسته شاوخوا ۲۰ دقيقې ژوندی و. موږ ته تر ټولو نږدې روغتون زموږ د اوسېدو له ځايه ۴ کيلومتره واټن درلود، خو د جګړې له امله ورته د رسېدو هېڅ امکان نه و.»[۸۳]



د کابل د پلچرخي پر سيمه د پاکستان هوايي بريد
۱۳ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: آژانس خبري پژواک

83 . رواداري، ۱۶ شمېره مرکه شوی، ۹ فبروري ۲۰۲۶.

# د ملکي خلکو پر ژوند د بریدونو رواني، ټولنیزې او اقتصادي پایلې

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، په افغانستان کې پر ملکي وګړو د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو اغېزې یوازې د انساني مرګ ژوبلې او مادي زیانونو پورې محدودې نه دي پاتې شوې، بلکې پر قربانیانو او د هغوی پر کورنیو یې ژورې رواني، ټولنیزې او اقتصادي پایلې هم پرېښې دي. پرله پسې وېره، د امنیت د احساس له منځه تګ، د ماشومانو په زده‌کړو کې ګډوډي، د بې‌وزلۍ زیاتوالی او بې ځایه کېدل هغه ګډ موارد دي چې د ډېری مرکه شویو کسانو په روایتونو کې په ښکاره ډول راڅرګند شوي دي. دغه بېلګې ښیي چې د شخړې اغېزې ان د بریدونو له پای ته رسېدو وروسته هم د ملکي وګړو پر ژوند سیوری غوړولی او عادي ژوند ته د هغوی د بېرته ستنېدو بهیر یې له جدي ننګونو سره مخ کړی دی.



د کابل د پلچرخي پر سیمه د پاکستان هوایي برید
۱۳ مارچ ۲۰۲۶ | انځور: آژانس خبری پژواک

## الف) پر قربانیانو او د هغوی پر کورنیو رواني اغېزې

د دې څېړنې ټولو مرکه شویو کسانو ویلي دي چې دغو بریدونو له دوی او د هغوی د کورنیو له غړو څخه د امنیت او رواني ارامۍ احساس اخیستی او د هغوی پر ورځني ژوند یې ګڼې منفي اغېزې پرېښې دي.

له مرکه شویو کسانو یو تن په دې اړه ویلي دي:

«زموږ د ټولو وضعیت خراب دی. کله ناکله ژاړم... موږ له بې‌وزلۍ او اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان یوو. هغه رېکشا چې پرې کار کوم، زما خپله نه ده، د بل چا لپاره پرې کار کوم. هر څه مو خدای ته سپارلي دي. یوازې یوه غوښتنه مې له تاسو څخه دا ده چې زموږ غږ نړۍ ته ورسوئ.» [٨٤]

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«کله چې زما مېرمن ووژل شوه، زما ژوند په بشپړه توګه بدل شو. له هغه وخته تر اوسه له جدي رواني ستونزو سره لاس او ګرېوان یم. کله ناکله د شپې له خوبه راویښ شم، پر خپل بستر کښېنم او بې له دې چې خپله متوجه شم، له ځان سره خبرې کوم. ان ځینې وختونه داسې هم شوي چې په خوب کې ګرځېدلی یم. دا خبره هغه ملګري راته کوي چې له ما سره یو ځای ژوند کوي... دې پېښې زما پر ژوند ډېر سخت ګوزار کړی دی.» [٨٥]

یو بل مرکه شوي کس هم داسې روایت کړی دی:

«زما وراره د کمپیوټر ساینس د پوهنځي د دویم ټولګي محصل و. پلار یې غوښتل چې دی د زده‌کړو ترڅنګ یو کار هم پیدا کړي. خو له هغه وخته چې هغه یې له لاسه ورکړی، وضعیت یې ډېر خراب شوی دی... شپږ یا اووه کیلو وزن یې کم شوی او مور یې هم له رواني پلوه په ډېر بد حالت کې ده. دا طبیعي ده چې د یوه ځوان زوی له لاسه ورکول د انسان پر ژوند ژوره اغېزه کوي. زموږ هیله دا ده چې دا موضوع د نړۍ تر غوږونو ورسېږي او د داسې بریدونو د بیا تکرار مخه ونیول شي. اوس هر ځل چې الوتکې د کابل په اسمان کې الوتنه کوي، ټول په وېره او ډار اخته کېږي.» [٨٦]

## ب) پر ښځو د بریدونو اغېزې

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، په افغانستان کې د پاکستان پوځي بریدونو پر ښځو پراخې او د پام وړ اغېزې لرلې دي. لکه څنګه چې د دغو بریدونو له ټولو هغو قربانیانو څخه، چې رواداری مستند کړي دي، ۱۷۴ تنه یې ښځې دي. همدارنګه، په بېلابېلو ولایتونو کې له ټولو ۲۹ زره بې‌ځایه شویو ملکي وګړو څخه، د پام وړ شمېر یې ښځې دي. له دې سره سره، پر ښځو د دغو بریدونو اغېزې یوازې تر انساني مرګ ژوبلې او بې‌ځایه کېدو پورې محدودې نه دي پاتې شوې، بلکې د هغوی پر ژوند یې پراخې رواني، ټولنیزې او اقتصادي پایلې هم درلودلې دي.

معلولیت، خپګان، اضطراب، د ناامنۍ احساس، د رواني فشارونو له امله د بدني ستونزو رامنځته کېدل، بې‌وزلي او د ښځو اقتصادي ستونزې هغه مهم موارد دي چې د مرکه شویو کسانو په روایتونو کې په وار وار یاد شوي دي. په یو شمېر مواردو کې، مرکه شویو کسانو د قربانیانو د میندو او مېرمنو د روغتیایي وضعیت د خرابېدو، د رواني فشارونو له امله د زړه د حملو، پرله پسې ژړا او عادي ژوند ته د هغوی د بېرته ستنېدو د نه توان په اړه خبرې کړې دي. دغه موندنې ښیي چې ښځې نه یوازې د خپلو عزیزانو او خپلوانو د له لاسه ورکولو له کړاو سره مخ دي، بلکې د دغو بریدونو د عاطفي او رواني پایلو تر ټولو دروند بار هم پر اوږو وړي.

84 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰ می ۲۰۲۶.
85 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۱۷ می ۲۰۲۶.
86 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲ جون ۲۰۲۶.

له مرکه شویو کسانو یو تن په دې اړه داسې روایت کړی دی:

«د هغه د مور او مېرمنې رواني او روغتیايي وضعیت ډېر خراب دی. زموږ کورونه څنګ په څنګ دي او هر سهار د هغه مور او مېرمنې د ژړا غږ اورو. پر مور یې د خپل زوی له شهادت وروسته څو ځله د زړه حمله راغلې او د درملنې لپاره روغتون ته لېږدول شوې ده. ځوانه مېرمن یې هم له رواني پلوه په ډېر بد حالت کې ده. هره ورځ له ځان سره خبرې کوي او پرله پسې ژاړي. هره ورځ د خپل ځوان مېړه قبر ته ځي، ساعتونه هلته کښېني او ژاړي. وروسته د کورنۍ غړي یې په ډېر منت او ټینګار بېرته کور ته راولي.» [87]

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«زه بې‌کوره او بې‌ځایه شوم او زما د کورنۍ ټول غړي له بدني او رواني پلوه زیانمن شوي دي. زما مېرمن په دې برید کې معلوله شوه او نور د ګرځېدو توان نه لري...» [88]

له دې ټولو سره سره، ښځې، سره له دې چې د دغو بریدونو د مستقیمو قربانیانو د پام وړ برخه جوړوي، د شخړې نورې اوږدمهالې پایلې هم په نابرابر ډول پر ځان زغمي. دغه وضعیت د دې اړتیا لا روښانه کوي چې د هغوی د رواني، ټولنیز او اقتصادي ملاتړ لپاره ځانګړي تدابیر ونیول شي او د هغوی ځانګړو اړتیاوو ته جدي پاملرنه وشي.

## ج) پر ماشومانو رواني اغېزې او د تعلیم له حق څخه د هغوی محرومېدل

د دې څېړنې ټولو مرکه شویو کسانو پر ماشومانو د دغو بریدونو له امله رامنځته شویو رواني زیانونو، لکه د وېرې، اضطراب او د ناامنۍ احساس ته اشاره کړې ده. همدارنګه، ۱۶ تنو مرکه شویو کسانو ویلي دي چې د بې‌ځایه کېدو له امله ماشومان د یوې مودې لپاره د تعلیم له حق څخه محروم شوي دي.

له مرکه شویو کسانو یو تن په دې اړه داسې ویلي دي:

«ماشومانو سخت رواني زیانونه لیدلي دي. هغوی د مرمیو د لګېدو له وېرې نه شي کولای له کوره ووځي یا لوبې وکړي، او د شپې هم په وېره له خوبه راویښېږي. سږ کال د همدې وضعیت له امله دوه میاشتې له ښوونځي پاتې شول. خلک ډېر بې‌وزله دي، خو د جګړې د وېرې له امله ان په خپلو کرنیزو ځمکو کې هم کار نه شي کولای. زموږ غوښتنه له نړیوالې ټولنې څخه دا ده چې زموږ د مظلومیت غږ واوري. موږ څه ګناه کړې ده؟ د پاکستان حکومت ولې ملکي وګړي په نښه کوي؟ ولې پر موږ بریدونه کوي؟» [89]

**یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:**

**«په دې برید کې مې پلار ووژل شو او مور مې هم ټپي شوه. زما مالونه له منځه ولاړل، او زما ماشومان لا هم ښوونځي ته نه ځي او په کور کې پاتې دي. له دې برید څخه مخکې به ټول ښوونځي او مدرسې ته تلل، خو اوس د وېرې او ناامنۍ د احساس له امله یې د زده‌کړو د دوام لېوالتیا له لاسه ورکړې ده.» [90]**

87. روواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۱ می ۲۰۲۶.
88. روواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ می ۲۰۲۶.
89. روواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۷ اپرېل ۲۰۲۶.
90. روواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«زما د اولادونو او ماشومانو روغتیایي وضعیت ډېر خراب دی... زما زامن د چاودنې له امله د رامنځته شویو رواني صدمو له کبله نه شي کولای ښوونځي ته ولاړ شي. د شپې په وېره له خوبه راویښېږي او چیغې وهي. زما ژوند تباه شوی دی. بې‌کوره او بې‌سرپناه شوی یم. غواړم زما د اولادونو او مېرمنې روغتیایي او رواني وضعیت ته پاملرنه وشي او زما کور بېرته ورغول شي.» [91]

## د) اقتصادي او ټولنیزې پایلې

د مرکو شننه ښيي چې د پاکستان پوځي بریدونو د قربانیانو د کورنیو، بې‌ځایه شویو کسانو او نورو ملکي وګړو پر ژوند پراخې اقتصادي او ټولنیزې اغېزې درلودلې دي. د بېلګې په توګه، ۱۸ تنو مرکه شویو کسانو د قربانیانو د کورنیو او بې‌ځایه شویو کسانو د اقتصادي او معیشتي ستونزو هوارول د هغوی له تر ټولو مهمو او بېړنیو اړتیاوو څخه بللي دي.

له مرکه شویو کسانو یو تن په دې اړه ویلي دي:

«دغو بریدونو د خلکو پر ژوند ډېرې ناوړه اغېزې کړې دي... ډېر خلک له رواني ستونزو سره مخ شوي دي او ان د یو عادي ډز غږ هم هغوی سخت وېروي. خلک تل په دې اندېښنه کې دي چې جګړه به بېرته پیل شي، له همدې امله په دوامداره وېره او اضطراب کې ژوند کوي. خلک له اقتصادي ستونزو سره هم مخامخ دي، او ډېرې کورنۍ ان د کچالو د اخیستو وس هم نه لري. زه ډېر داسې کسان پېژنم چې خپل هر څه یې له لاسه ورکړي دي او اوس د یو وخت خوړو د پخولو لپاره د غوړیو د اخیستو پیسې هم نه لري.» [92]

یو بل مرکه شوي کس داسې ویلي دي:

«دغو بریدونو د خلکو پر اقتصاد او کسب او کار ډېرې منفي اغېزې کړې دي. هر ځل چې د راکټ غږ واورېدل شي، بازارونه او دوکانونه تړل کېږي، خلک په وېره او اندېښنه اخته کېږي او هر څوک د خپل کور پر لور منډې وهي... خلک د پاکستان د پوځي ځواکونو د بریدونو له امله له رواني ستونزو سره مخ شوي دي او هېڅوک د ارامۍ او امنیت احساس نه کوي، ځکه تل د راکټ د لګېدو احتمال شته. بزګران هم د بریدونو د وېرې له امله نه دي توانېدلي خپلو کرنیزو ځمکو ته رسېدنه وکړي. په ټوله کې د کونړ ولایت پر مرکز او په ځانګړي ډول پر سرحدي ولسوالیو د دوامدارې وېرې او وحشت فضا واکمنه ده. تر ټولو ډېر رواني زیان ښځو او ماشومانو لیدلی دی... هر ځل چې د چاودنې یا ډزو غږ واورېدل شي، ماشومان چیغې وهي او ښځې کلمه وايي.» [93]

یو بل مرکه شوي کس ویلي دي:

«زموږ ژوند تباه شو. زما د کورنۍ دوه غړي شهیدان شول او د هغوی د له لاسه ورکولو درد لا هم زموږ په کورنۍ کې پاتې دی. له کار او ژوند څخه پاتې شوو، زموږ کور ویجاړ شو او زموږ کرنیزې ځمکې بې کرکیلې پاتې شوې. ماشومان او ښځې له رواني ستونزو سره مخ شوي دي او د شپې ارام خوب نه لري. د خوراکي توکو د اخیستو لپاره پیسې نه لرو. د پاکو د څښاک اوبو، درملو او ډاکټر نشتوالی زموږ له سترو ستونزو څخه دی. زموږ بله اندېښنه دا ده چې نه پوهېږو څه وخت به وکولای شو بېرته خپلو کورونو ته ستانه شو او خپل پخواني ژوند بیا څنګه پیل کړو.» [94]

91. رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۱۷ می ۲۰۲۶.
92. رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۹ می ۲۰۲۶.
93. رواداري، ۴ شمېره مرکه شوی، ۷ می ۲۰۲۶.
94. رواداري، ۶ شمېره مرکه شوی، ۱ می ۲۰۲۶.

لکه څنګه چې د قربانیانو په روایتونو کې هم څرګنده شوه، سره له دې چې د زیانونو ډولونه او د هغوی د ژوند شرایط له یو بل سره توپیر لري، نږدې ټولو قربانیانو پر څو ګډو غوښتنو ټینګار کړی دی؛ د بریدونو درول، د قربانیانو د کورنیو او بې‌ځایه شویو کسانو ملاتړ، د زیانمنو شویو کسانو روغتیایي او رواني وضعیت ته رسېدنه، د اوښتو زیانونو جبران، او نړیوالې ټولنې ته د هغوی د غږ رسول.



د پکتیا ولایت پر څمکنیو ولسوالۍ د پاکستان هوايي برید
۲۹ جون ۲۰۲۶ | انځور: آژانس خبری پـــژواک

# پــایــله

د دې راپور موندنې ښيي چې د پاکستان پوځي ځواکونو د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر او د ۲۰۲۶ کال د جون ترمنځ د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې یو لړ هوایي او ځمکني بریدونه ترسره کړي دي، چې په پایله کې یې سلګونه ملکي وګړي، په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان، شهیدان او ټپیان شوي، د استوګنې کورونه، عامه تأسیسات او خدماتي مرکزونه ویجاړ شوي دي. همدارنګه، په جګړه ځپلو سیمو کې د زرګونو ملکي وګړو بې‌ځایه کېدل او کډه کولو ته اړ کېدل د دغو بریدونو له نورو پایلو او اغېزو څخه دي.

د راټولو شویو اطلاعاتو او شواهدو پر بنسټ، د پاکستان پوځي ځواکونو په دې موده کې خپل بریدونه تر ډېره د شپې له خوا او د تفکیک او احتیاط د اصولو له رعایت پرته، په افغانستان کې د ملکي وګړو پر ملکي سیمو او د استوګنې پر کورونو ترسره کړي دي؛ هغه څه چې د انساني مرګ ژوبلې د زیاتوالي، د ملکي وګړو د کړاو د لا ډېرېدو، او د پراخو زیانونو او تاوانونو لامل شوي دي.

سره له دې، په افغانستان کې د ملکي هدفونو پر ضد د پاکستان د هوایي او ځمکنیو بریدونو دوام، چې په وروستیو کلونو کې په پرله‌پسې توګه ترسره شوي دي، د نړیوالو بشرپال حقونو له بنسټیزو اصولو سره په څرګند ټکر کې دي او د جنګي جرم مصداق ګڼل کېدای شي.

سره له دې، تمه کېږي چې په دې راپور کې درج شویو موندنو او سپارښتنو ته نړیواله ټولنه او نور اړوند نړیوال مراجع جدي پام وکړي، او د اغېزناکو او عملي اقداماتو د طرحې او پلي کېدو لپاره یې زمینه برابره کړي، چې د ملکي وګړو د کړاو د پای ته رسولو، د نړیوالو بشرپال حقونو د نقض په تړاو د ښکېلو لورو د ځواب ویلو د تضمین، او د قربانیانو د کورنیو، ټپیانو او بې‌ځایه شویو کسانو وضعیت ته د اغېزناکې رسېدنې لپاره اړین دي. همدارنګه، اړینه ده چې دغه اقدامات د قربانیانو د حقونو د ملاتړ، د اوښتو زیانونو د جبران، او د دې ډول سرغړونو د بیا تکرار د مخنیوي په موخه طرحه او پلي شي.

# وړاندیزونه

رواداري، د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ځواب ویلو د پیاوړتیا، د نړیوالو بشرپال حقونو د نقض د بیا تکرار د مخنیوي، او په ځانګړې ډول په روانه جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د تضمین په موخه، لاندې سپارښتنې وړاندې کوي.

## ۱. د پاکستان دولت ته

- له پاکستان دولت څخه په جدي توګه غوښتنه کوو، هغه بریدونه چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل کېږي سمدستي ودروي او د هر ډول پوځي عملیاتو پر مهال د نړیوالو بشرپالو حقونو له مخې د خپل قانوني مکلفیت په توګه، د تفکیک، تناسب او احتیاط اصول مراعات کړي.
- همدارنګه، له پاکستان دولت څخه غوښتنه کوو چې په افغانستان کې د ملکي تأسیساتو او اقتصادي زېربناوو، لکه روغتونونو او درملیزو مرکزونو، ښوونځیو، جوماتونو، د استوګنې کورونو او بازارونو پر ضد له هر ډول پوځي بریدونو او عملیاتو څخه په جدي توګه ډډه وکړي.
- د نړیوالو بشرپالو حقونو د سرغړنو د مواردو په اړه خپلواکې، بې‌پرې او اغېزناکې څېړنې ترسره کړي او عاملان يې ځواب ویلو ته اړ کړي. همدارنګه، په افغانستان کې قربانیانو او د هغوی کورنیو ته اوښتي زیانونه جبران کړي.

## ۲. افغانستان کې حاکمو چارواکو ته

- په افغانستان کې له حاکمو چارواکو په کلکه غواړو چې د ملکي خلکو د ساتنې اړوند خپلو قانونو ژمنو باندې عمل وکړي او د ملکي وګړو په ګڼ مېشتو سیمو کې د هر ډول جنګي تجهیزاتو او ابزارو له ځای پر ځای کولو ډډه وکړي.
- له حاکمو چارواکو تمه کیږي چې اطلاعاتو ته پر لاسرسي لګول شوي محدودیتونه لرې کړي او اجازه ورکړي چې رسنۍ، د بشري حقونو سازمانونه او مرستې رسوونکي ډلې له خنډ پرته کار وکړي. سربېره پر دې، په افغانستان کې د ملکي خلکو پر ژوند د پاکستان له نظامي بریدونو څخه د رامنځته شویو پایلو اړوند د حقوق بشري سازمانونو او بین المللي بنسټونو د خپلواکو څېړنو زمینه برابره کړي.
- همدااراز، حکم چارواکي باید تضمین کړي چې قربانیان او شاهدان له هر ډول محدودیت یا د غچ اخستنې او زورونې له وېرې پرته خپل اطلاعات له حقوق بشري بنسټونو او رسنیو سره شریک کړي.
- له حاکمو چارواکو غوښتنه کیږي چې د ملکي مرګ ژوبلې، د عمومي او شخصي شتمنیو د تخریب، بې ځایه کېدو او د بشرپالو حقونو د نقض د ټولو احتمالي مواردو اړوند څېړنې وکړي او پایلې يې خپرې کړي.
- همدااراز، حاکم چارواکي باید د قربانیانو د کورنیو، ټپیانو او بې ځایه شویو لپاره بیړنۍ او اړینې مرستې لکه خوراکي توکي، سرپناه، روغتیایي خدمات او ټول بشرپال ملاتړونه برابرې کړي، او دې خدماتو ته د هغوی برابر لاسرسی تضمین کړي.
- رواداري له حاکمو چارواکو غواړي چې د بې ځایه شویو ماشومانو لپاره د تعلیم حق ته له تبعیض پرته د لاسرسي لپاره لازم اقدامات او تدابیر ونیسي او پلي يې کړي.
- سربېره پر دې، له حاکمو مقاماتو غوښتنه کیږي چې له بریدونو متضرره شویو ښځو، ماشومانو، زړو کسانو او د معلولیت لرونو کسانو د ملاتړ لپاره ځانګړي ملاتړیز پروګرامونه طرحه او پلي کړي او د بې ځایه شویو خلکو د داوطلبانه، خوندي او له عزت او کرامت سره د بېرته ستنېدو زمینه برابره کړي.

- له حاکمو چارواکو غواړو چې متضررې شوې سیمې، په ځانګړي ډول ښوونځي، مدرسې او روغتیایي مرکزونه بیا ورغوي او دې مرکزونو ته د هیوادوالو لاسرسی بیاځلې تامین کړي.

## ۳. ملګرو ملتونو سازمان، نړیوالې ټولنې او بین المللي بنسټونو ته

- له ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوو چې په افغانستان کې د نړیوالو بشرپالو حقونو د نقض موارد، په ځانګړي ډول په کابل ښار کې د روږدو کسانو د درملنې پر مرکز برید، د حقیقت موندنې د یوه نړیوال پلاوي په جوړولو سره په خپلواکه، بې‌پرې او اغېزناکه توګه وڅېړي، او د عاملانو د ځواب ویلو، د قربانیانو د ملاتړ او د لا ډېرو سرغړونو د تکرار د مخنیوي لپاره له ټولو شته میکانېزمونو څخه ګټه واخلي.

- د پاکستان پر حکومت فشار واچوي، څو د نړیوالو بشرپالو حقونو له مخې پر خپلو ژمنو عمل وکړي او له هر هغه اقدام څخه ډډه وکړي چې د ملکي وګړو ژوند او امنیت له خطر سره مخ کوي.

- همدارنګه، له ملګرو ملتونو څخه تمه لرو چې بشري مرستې، په ځانګړي ډول د سرپناه، خوراکي توکو، روغتیایي خدمتونو، رواني او ټولنیز ملاتړ او د بې‌ځایه شویو کسانو وضعیت ته د رسېدنې په برخو کې، زیاتې کړي او دغو خدمتونو ته د زیانمنو شویو کسانو لاسرسی اسانه کړي.

- له نړیوالو مرستندویه بنسټونو څخه غوښتنه کوو چې د بریدونو قربانیانو، په ځانګړي ډول ښځو، ماشومانو او نورو زیانمنونکو ډلو ته رواني او ټولنیز خدمتونه پراخ کړي، او د هغوی لپاره د اقتصادي پیاوړتیا او د ژوند د معیشت د ښه کېدو پروګرامونه طرحه او پلي کړي.

- همدارنګه، له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوو چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې، د جګړې له امله د رامنځته شویو زیانونو د کمولو، او پر ملکي وګړو د بریدونو د بیا تکرار د مخنیوي لپاره د اغېزناکو سیاسي، ډیپلوماتیکو او بشرپالو اقداماتو ملاتړ وکړي.

رواداری

RAWADARI